# د پرمختګ ارځونه:
## په افغانستان کې د سیمه ییزه اداری په باب نوی راپور



ان ایوانس او یاسین عثمانی

غبرګولی ۱۳۸۵

AREU
Afghanistan
Research and
Evaluation Unit

**د پرمختتګ ارځونه:**

# په افغانستان کې د سیمه ییزه اداری په باب نوی راپور

**ان ایوانس او یاسین عثمانی**

**غبرګولی ۱۳۸۵**

د افغانستان د څیړنې او ارځونې اداره (AREU)
د څېرونو پرلپسی لړی

د دغه ارځونې تمویلوونکې اداري
نړیوال بانک او
د برتانیې د بین المللې پرمختتګ
ډیپارټمنټ

غبرګولی ۱۳۸۵

۲۰۰۵ کال د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) ټول حقوق محفوظ دي.
هغه افکار او نظریات چې په دغه کتاب کې درج دي هرو مرو د دغې ادارې د نظریاتو ښکارندوي ندي.

ژباړونکي: شپږ شکلونه چې په دغه کتاب کې موجود دي او په پښتو ژباړل شوي ندي، له دې کبله ده چې د هغو اصلي نقلونه د ژباړې په محال کې موجود نه وو.

ژباړونکی:
احمد الله امرخيل

## د دغه راپور په هکله

دغه سند د نړیوال بانک د واک لاندي او د همدغه بانک له خوا د ګډې لایحی پر اساس، د افغانستان له پاره د نړیوال بانک عامه مالي ادارې (PFM) د یوی برخی د بیا څیړنی په توګه د بیا کتني له پاره تمویل شوه. او یو څه نوره مرسته د برتانیې د انکشافي ډیپارټمنټ (DFID) له خوا ورکړل شوه. د دغې پانې یوه مخکني مسوده د نړیوال بانک له خوا د مرکې د بحث د یوی مسودی په توګه خپره شوه. لاسته راوړنه، ژباړه، او نتیجه چي په دغه سند کي ده یوازي لیکوال پوري اړه لري او د تمویلوونکي موسسی کوم مفکوره پکښي نشته.

## د افغانستان د څیړني او ارځوني د اداري په هکله (AREU)

د افغانستان د څیړني او ارځوني اداره یوه خپلواکه موسسه ده چي د پالیسي دپاره آسانتیاوي او څیړنه کوي. دغه اداره په افغانستان کي د څیړني او زده کړې د فرهنګ د پرمختتګ لپاره د افغانستان تحلیلي ظرفیت د تقویې او د تحلیل او مباحثی د فرصتونو د مینځته راوړلو له پاره کار کوي. د افغانستان د څیړني او ارځوني اداري اساسي تصویر دادې چي د دغې اداري کار به د افغانانو ژوند لا ښه کړي. دغه د څیړني او ارځونې اداره د مرستندویه ټولنی له خوا په افغانستان کي تاسیس شوه، او د رئیسانو یوه کمیټه لري چي پکی د ډونرانو په ګډون د ملګرو ملتو او داسي نورو سازمانونو او غیر حکومتي موسسو استازی شته دي.

د افغانستان د څیړنې او ارځونې د اداري اوسنې تمویلوونکي منابع، د اروپا کمیسیون، په افغانستان کي د ملګرو ملتو مرستندوي هیئت ، د مهاجرینو عالي کمیشنرې ، د هالند د مهاجرینو موسسه (SV) ، نړیواله بانک، د برتانیې د بین المللې پرمختک ډیپارټمنټ ، او د سویډن، سویټزرلنډ او ډنمارک حکومتونه دي. او دغه پروژه د نړیوال بانک له خوا او د برتانیې د بین المللې پرمختک ډیپارټمنټ په څه مرسته تمویل شوه.

## مننه

د دغه کتاب لیکونکې د بامیان، بدخشان، فاریاب، هرات، کندهار، او وردگو له ټولو مامورینو چې د څېړنې له ګروپ سره یې کتنه وکړه، او موږ ته یې ارزښتمند معلومات او نظریات راکړل خپله ژوره قدر داني کوې. او همدارنګه دغه ټیم غواړي چې له پیټر مویر د مالې وزارت د خزانې ډیپارټمنټ مشاور بیرینګ پوینټ څخه چې موږ ته یې د افغانستان د مالي اداري معلوماتي سیستم ډیټا بیز (AFMIS) په واک کې راکړ او همدارنګه د یو پخوانی ډرافت په هکله ویناوي وکړې، او د مالي وزارت د بودجې د ډیپارټمنټ مشاوره مارې وینر، بیرنګ پوینټ څخه چې موږ ته یې د ۱۳۸۳ کال د مالیې تخصیص ډیټا او د یوه پخوانی ډرافت په هکله خپلې ویناوې وکړي، مننه کوو. همدا رنګ په دې سند کې، د افغانستان د څېړنې او ارځونې اداري د همکارۍ له سارا لیستر او ویلیم بیرد، ستیفن ګومبرټ، نیک مینینګ، پیټر میډلبروک، اس. ام. قومرول حسن، ساټندرا پرساد، فیلیپ اوفرت، ان ټولي، او نړیوال بانک له ویناوو څخه هم ګټه اخستل شوې ده. په پای کې، د څېړنې ټیم غواړي چې د افغانستان د څېړنې او ارځونې اداري له کارکوونکو څخه چې د قدر لوړ لوژستیکي ترتیب یې په شپږو ولایاتو کې نیولي وو مننه وکړې.

## فهرست


**د ځیرنې لاندې شپږو ولایاتو نخشه ........ i**
**د اصطلاحاتو شرحه ........ ii**
**۱. سریزه ........ ۱**
د ځیرنې لاسته راوړنې او سپارښتنې ........ ۱
د حکومت عکس العمل ........ ۲
د پرمختګ ارځونه ........ ۲
د اصلې لاسته راوړنو خلاصه ........ ۲
**۲. د ولایاتو سرترسري حمایه ........ ۴**
**۳. د ولایاتو مالې تخصیص او د بودجه اجرا ........ ۶**
د هر عاید او لګښت حساب ........ ۶
په مناسب وخت د تخصیص رسیدل ........ ۸
د ځانګړي لګښت په حساب کې د مثبتو بیلانسونو وړتیا ........ ۱۰
د لګښتونو په اداره کولو کې لا زیاته آسانی ........ ۱۱
مرکز ته په وخت سره سم راپور ورکول ........ ۱۲
**۴. د تنخاوو اجرا ........ ۱۳**
په مناسب وخت د تشکیل رسیدل ........ ۱۴
د ښوونکو د تنخاوو اداره ........ ۱۴
د هغو کارمندانو عاید راپور چي معاش یې لاس ته راوړي ........ ۱۵
**۵. د معاش څخه پرته لګښت ........ ۱۷**
د تخصیص وړتیا ........ ۱۷
پیرودل ........ ۱۸
**۶. د حساب د چن کولو لاری ........ ۲۱**
**۷. د بودجې جوړول او د انسجام میکانیزم ........ ۲۲**
**۸. د کار کوونکو اداره ........ ۲۴**
وړ والې سره سم استخدامول ........ ۲۴
د اولویتونو اصلاح ا و د تشکیلاتو تجدید (PRR) ........ ۲۴
**۹. ښاروالي ........ ۲۵**
**۱۰. پریکړې او سپارښتنې ........ ۲۷**
ضمیمه ۱: د ولایتې بودجې د بشپړونې تحلیل ........ ۳۱
ضمیمه ۲: د ولایتې لګښتونو په برخه کې د معاش او غیر معاش جلاکوونکي تحلیل ........ ۳۴
ضمیمه ۳ د ښاروالی اړوند معلومات ........ ۳۷

## چوکاټ

اول چوکاټ: د کندهار د استوني او واردولو نيمه رسمي ماليه

دوهم چوکاټ: د باميانو د ښووني او روزني د ځانګې د تنخاوو اداره

دريم چوکاټ پر سيمه ييزه انکشاف باندي: د دوه ملي اولويتونو تمرکز

څلورم چوکاټ: د باميانو د سوکاله راتلونکی جرګه

پنځم چوکاټ: د ولايتي لګښتونو مثالونه چې د ښاروالی په عايداتو تمويل شوې دې

## شکلونه

لومړی شکل: غير نظامی، يا د دولت هغه ملکي کارکوونکي چي معاش يې تاديه شوي دي

دوهم شکل: غير نظامی، يا د دولت هغه ملکي کارکوونکې چې معاش يې تاديه شوي دي - د ښونې او روزني د وزارت څخه پرته

دريم شکل: له معاشی پرته لګښتونه، د ولاياتو د بشپړه لګښتونو د برخی په توګه، چې ۱۳۸۱ کال له ۱۳۸۳ سره په تله شوی دی

څلورم شکل: د ولايت د تخصيص د فيصدي په پرتله د بودجی مصرفول، له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۳ کال پوري

پنځم شکل: د مياشتي د پای مثبت بيلانس د منځنی مياشتنی لګښتونو د نسبت په توګه

شپږم شکل: د معمولي بودجی هغه برخه چې د ولايت دپاره غوره شوې ده

## جدولونه

لومړی جدول: د معاش پرته لګښتونه، ۱۳۸۱ - ۱۳۸۳ (د ميليون په حساب)

دوهم جدول: مجموعی ولايتی ونډو لګښتونه د طبقو له مخې، د ۱۳۸۳ کال لومړنی ۹ مياشتې

دريم جدول: دولايتی بودجي مصرفول د تخصيص د فيصدی په توګه د لګښتونو د کټګوری له مخی، کال ۱۳۸۲

څلورم جدول: د ولايتی بودجې مصرفول د تخصيص د فيصدی په توګه د لګښتونو د کټګو ری له مخې، د ۱۳۸۳ کال اولې ۹ مياشتې

پنځم جدول: د ولايتی بودجې مصرفول د وزارت له خوا د تخصيص د فيصد په بڼه د ۱۳۸۳ کال لمړي نه مياشتې

شپږم جدول: د معاشونو د څنډولو مرحلی ته کتنه

اووم جدول: د وزارت له خوا د ولاياتو د ۱۳۸۳ کال د دريمی دری مياشتنی دوری د معاش او د معاش پرته تخصيص برخه،

اتم جدول: د معاشې پرته تاديې د اجرا مرحله

نهم جدول: د ولايتی ښاروالیو د ۱۳۸۲ کال مالی عايدات او لګښتونه

لسم جدول: د ۱۳۸۳ کال دپاره د ولايتی ښاروالی: د تشکيلاتو تجديد

يوولسم جدول: د سپارښتنو لنډيز

دولسم جدول: بدخشان: ۱۳۸۳ کال د بودجی د اجرا تحليل،

ديرلسم جدول: باميان: :د ۱۳۸۳ کال د بودجی د اجرا تحليل،

څوارلسم جدول: فارياب: د ۱۳۸۳ کال د بودجی د اجرا تحليل،

پنځلسم جدول: هرات: د ۱۳۸۳ کال د بودجی د اجرا تحليل

شپاړسم جدول: وردک: د ۱۳۸۳کال د بودجی د اجرا تحليل،

اوولسم جدول: لومړی: د ولاياتو د ټول کال د معمولې بودجی تخصيص، معاش پر مقابل د معاش پرته ونډې په ۱۳۸۳ کال کې

اتلسم جدول: په ولاياتو کې د وزارت له خوا د عادی بودجی نه مياشتنی ونده، د معاش او معاش پرته ونډې ۱۳۸۳

نولسم جدول: په ولاياتونو کې د وزارت له خوا د عادی بودجی نه مياشتنی ونډه، د معاش او معاش پرته ونډې ۱۳۸۳

شلم جدول: د فيض آباد او (بدخشان) د ښاروالیو مالي عايدات او لګښتونه د کټګوری له مخې

يوويشتم جدول: د فيض آباد (بدخشان) د ښاروالی د ۱۳۸۳ کال تشکيل

دوه ويشتم جدول: د باميانو د ښاروالی عايدات او لګښتونه د کټګوری له مخې

دری ويشتم جدول: د باميانو د ښاروالی د ۱۳۸۳ کال تشکيل

څلورويشتم جدول: د ميمنه (فارياب) د ښاروالی د ۱۳۸۳ کال تشکيل

پنځه ويشتم جدول: د ميمنه (فارياب) د ښاروالی د ۱۳۸۳ کال لګښتونه
شپږ ويشتم جدول: د ميمنه (فارياب) د ښاروالی د ۱۳۸۲ کال عايدات او لګښتونه د کټګوری له مخې
اووه ويشتم جدول: د هرات د ښاروالی د ۱۳۸۳ کال تشکيل
اته ويشتم جدول: د هرات د ښاروالی عايدات او لګښتونه د کټګوری له مخې
نه ويشتم جدول: د کندهار ښاروالی د ۱۳۸۲ کال عايدات او لګښتونه
ديرشم جدول: د کندهار ښار او ولسواليو د ښاروالیو د ۱۳۸۲ کال تشکيل
يو ديرشم جدول: د ميدان ښار (وردک) د ښاروالی د ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کال عايدات او لګښتونه
دوه ديرشم جدول: د ميدان ښار (وردک) د ښاروالی د ۱۳۸۳ کال تشکيل
دری ديرشم جدول: د ښاروالیو د فعاليتونو خلاصه

## تر څېړنې لاندې شپږو ولایاتو نخشه



## د اصطلاحاتو شرحه

### دري اصطلاحات

| | |
|---|---|
| اجير | هغه دولتي کارکوونکي چې ثابت کاري قرارداد لري |
| باب | د لگبنتونو شپږ اصلی بابونه |
| فصل | د لگبنتونو مفصل کود |
| کارمند | د دولت دايمی کارمندان |
| مستوفيت | د ماليې وزارت ولايتې دفتر |
| مستوفي | د ماليې وزارت ولايتې نماينده |
| شورا | جرگه |
| تخصيص | تخصيص شوی بودجه |
| تشکيل | د کارمندانو تشکيل، يا د منظور شويو پوستونو لست |

### مخفف

| | |
|---|---|
| (AREU) | د افغانستان د څېړنی او ارځونې اداره |
| (AREU) | د افغانستان د بيا رغونی امانت فند |
| (BQP) | د افغانستان د استحکام کړنلار |
| (CGC) | د ټولنې انکشافی جرگه |
| (GAA) | د افغانستان بانک |
| (DID) | د ولسوالی د زير بنا انکشاف |
| (IARCSC) | د اداری سمون او مدنی ټولنی نا پايېلی کميسيون |

## ۱. سریزه

**د اصلي څېړني لاسته راوړنې او سپارښتني**

د افغانستان د څېړني او ار څوني اداري او نړیواله بانک په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د سیمه ییزي اداري په هکله څېړنه وکړه. ددغي څېړنې اساسي ټکې په شپږو ولایاتو، بدخشان، بامیان، فاریاب، هرات، کندهار او وردک کې د یو ماموریت بشپړونه وه. دغه ماموریتونه د ۲۰۰۲ کال د نومبر او د ۲۰۰۳ کال د جولاي میاشتو تر مینځ بشپړشول. د دغي څېړنې لاسته راونې او سپارښتنې په یو ورکشاپ کې چې ۱۰۰ ولایتې مامورینو پکښې ګډون کړي وو وړاندې شوې.

د څېړنې نتایج په دوه رپورټونوکې خپاره شول:

۱. ایوانس، انا، نیک ماننګ، یاسین عثمانی، انا تولی او اندریو وایلډر. ۲۰۰۴ الف. په افغانستان کې د حکومت داری لاربښود. کابل. افغانستان، د افغانستان د څېړنې او ارڅونې اداره.

۲. ایوانس، انا، نیک مانګ، انا تولی سره د یاسین عثمانی او اندریو وایلډر. ۲۰۰۴ ب. سیمه ییزه اداره په افغانستان کې، د عمل له پاره بر آورد او سپارښتنې. کابل. افغانستان. د افغانستان د څېړنې او ارڅونې اداره.

د څېړنې له نتیجې څخه ثابته شوه چې برسیره پر زیاتو سیاسي ګواښونو، په سیمه ییزه کچه بیوروکراسي موجوده وه او د اجرا کولو امکانات یې هم موجود وو. خو د دغه فرصت دپاره وخت ډیر کم و، که ژرترژره عمل شوی نه وو نو عامه مهارتونه، تجربې او کاري مسؤ لیت به له سیستم څخه په بشپړه توګه له مینځه تللي واي. اساسي سپارښتنې په لاندي توګه دي:

- ناکافي تنخا - بي حده لړه او ناخته
- د کارمندانو د استخدام ټالول
- د کارمندانو ډیر پخوانې تشکیل
- د زده کړي او د کړنلارو د پوهي لږوالي.
- له معاشي پرته د نغدو پیسو لږوالي
- په ولایاتو او ولسوالیو کې د مرکزي حکومت نه شتون
- به دفاترو کې د امکاناتو لږوالي
- د اوسني تشکیل پر اساس د مرکزي پالیسیو په هکله پریکړي
- د ولایاتو او ولسوالیو د سرحدي کرښو بدلون
- د ټولنیز خدماتو دپاره د نویو نسلونو اړتیا

دغه راپور دوه بنسټیزې کړنلارې وړاندي کړې. لمړی دا چې په مرکز باندي ږغ کوي چې د ولایاتو، ولسوالیو او د ولایتي ښاروالیو د کار د رول او د هغوي د سیاسي رول څخه د یو نه ویشونکې دولت په حیث، د خدمت کوونکې په بڼه ملاتړ وکړي. د کړنلاري دوهمه مرحله چې له ترونکی انګیزو څخه جوړه شوی ده، د سیمه ییزي اداري له پاره د هغوي سازماني او تاریخي ریښې ښکاروي. ارزښتمنده انګیزي په سیمه ییزه کچه د اغیزمنو زیرمو په تیارولو سره چې د اداري کوښښونو په معمولي اندازه ګیري په کوته شوي دي او د بیلابیلو شرایطو چې ولایات، ولسوالي او ولایتي ښاروالي ورسره مخامخ کیږي، غوښتونکی دي.

په تیره بیا، دغو راپورونو کاري مسؤلیتونه د ملي حکومت له خوا په کابل کې وړاندي کړي چې:

- د تنخا او تقاعد سمون بشپړ کړي
- په مرکزي نماینده ګیو کې د اداري سمون او مدني ټولني ناپایېلي کمیسیون (IARCSC) او په تنخاوو کې د خزانې د صلاحیت زیاتوالي له امله او همدا ډول د مالي وزارت له خوا د کړنلاري رهنما د تیارولو، او د معمولي او انکشافي بودجي د څارنې د لوړ والي له لاري، باور رامنځته شي
- د تنخاوو او د مامورینو د استخدام د تاخیر د لیري کولو، د نوي تشکیل جوړولو، د معاش پرته نغدو پیسو د جریان زیاتوالي، په ساحه کې د کابل د حضور او نفوذ لوړتیا او د وزارتخانو بیا ټاکل او په ولسوالیو کې د قانون د صلاحیت حدود د ټینګولو له لاري، کابل ته وفاداری زیاته کړي
- د ولایاتو د بیارغوني او د روغتیایې او زده کړي د ځانګو د ړومبي توب د حمایې له لاري د ولایاتو د وقار او ظرفیت بیا رغول
- د ولسوالیو د ساختمانونو بیارغوني او د لیکل شویو کړنلارو د حمایې له لاري د ولسوالیو بیا ژوندي کول.

د غې څېړني د سیمه ییزي اداري له پاره د کاري مسؤلیتونو او اړونده انګیزو د اندولولو، د هزینې، متواضع نماینده ګیو او تخنیکې مرستې په ترکیب چې د اداري کوښښونو پر ساده اندازه باندي ولاړ دې. اساسي لاره وړاندي کړي ده تر ټولو متواضع لار وه چې مرکز ته یې پر محلي ساحو باندي کنترول ورپه برخه کاوه.

**د حکومت عکس العمل**

له هغه وخت څخه چې سیمه ییزه څېړنه بشپړه شوه، دولت یو لړ فعالیتونه چې دغه مساله په ګوته کوي، شروع کړي دي. د مثال په ډول:

- د افغانستان د ثبات پروګرام یې په کار اچولی دی چې د ولایتي پروژو د ثبات له پاره به فنډ، او د ولسوالیو د مامورینو له پاره به تعمیر تیاروي او د ولایاتو او ولسوالیو په کچه به د ظرفیتونو څخه حمایت کوي.
- د اولویت د سمون او بیا جوړوني فرمان یې تصویب کړ چې د دولتي ادارو د بیا جوړوني له پاره او د اساسي مقامونو له پاره د تنخاوو اندازه وټاکي
- د مالي په وزارت کې یې یو لړ اصلاحات وړاندی کړل لکه:
- د تنخاوو پر لست بیا تمرکز کول؛
- د هزینې سمه اداره؛
- د بودجې پاکه کړنلاره، او
- د دولتي عایداتو د راټولولو سمون.
- اداري سمون او مدني تولني ناپایېلي کمیسیون (IARCSC) یې تاسیس کړو چې د اداري سمون اجندا وګوري او په دوهمه درجه او له هغه څخه پورته د وړوالي سره سم کارمندان استخدام کړي.

بر سیره پر دي د مالي وزارت د مستوفیت تشکیل، دندي او مسؤولیتونه بیا څېړي. که څه هم لا تر اوسه د ځینې اساساتو په هکله لکه، د مالیاتو او هزینې د راپور جوړښت، پریکړه شوي نده، دا یو ډول ابتکار ښکاري چې د ولایتي خانګو د حمایې دپاره د بودجې د هماهنګي اداره تاسیس شي، او په لا زیات عمومي بڼه د ولایتي پلان جوړولو سره مرسته وکړي.

نو که دا فعالیتونه غوره دي، مثبت قدم ګڼل کیږي، د نورو سیمو په راپور کې راپورته شوي مسایل تاکید کوي. په ځانګړه توګه، ډېر داسي اولویتونه شته چې د دولت د سیمه ییزې اداري څخه بهر فعالیت کوي. د نمونی په ډول، د ولایتي بیارغوني ټیمونو د پروسی اړوند د ولایتي بیا رغوني څو دفاتر په ځینو ولایاتو کې شته، او یکی د ولایاتو د پراختیا پیشنهاد شوي کمیټي چې د مالي وزارت له خوا مینځته راغلي موجودي دی ترڅو د ملي ړومبي توب پروګرامونه اداره کړي. او اوس د ولایاتو او ولسوالیو په کچه د پلان نیولو/ انسجام میکانیزمونه د نشه یې توکو پر ضد د کوښښونو تر څنګ جوړ شوي دي. که څه هم د دغو بیلا بیلو تشکیلونو او سیمه ییزې اداري تر مینځ هم آهنګي شته خو په زیاتو قضایو کې رابطي لا کمزورې دي.

د ولایاتو او ولسوالیو د سرحدونو مسله هم پاتي کیږي. خصوصاً په فاریاب کې د سرحد په اوږدوالي چې کومي څلور ولسوالي پرتي دي په زیاته کچه جوزجان ولایت کې فعالیت کوي. د دغو ولسوالیو تشکیل فاریاب ته او تخصیص یې جوزجان ته استول کیږي. د تنخاوو او معاش پرته هزینو پروسه په جوزجان کې ترسره کیږي او مالیات هم په جوزجان کې راغونډیږي. د هغې مودي راهیستي چې دغه ریپورت خپور شوي دولت دوه نور ولایات هم مینځ ته راوړي دي.

**د پرمختک ارځونه**

له لومړني ماموریت څخه چې په هرات کې بشپړشو له دوو کلونو ډېر وخت تیرشو، اوس نړیواله بانک د افغانستان د څیړني او ارزوني اداره د متقابله مناسباتو د موافقي پر اساس ګومارلي ده ترڅو تر دی مهاله د اصلاحاتو او بیا داچې د دې اصلاحاتو د پرمختګ اغیزه په سیمه ییزه کچه، بیا وګوري.

دغه کتنه د ان ایوانس او یاسین عثماني له خوا بشپړه شوه، چې دغه دوه تحقیق کوونکې په اصلي څیړنه کې بوخت و. دغې کتنې د بودجي او مالي اداري په ساحه کې او همدارنګه د کارمندانو د استخدامولو کړنلاره په دقت سره وآزمییله. د شپږو ولایاتو بیا څیړنه چې په اصلي راپور کې راغلی په دغه څیړنه کې شامل وو؛ دغه ماموریت د ۲۰۰۴ کال د نومبر او ۲۰۰۵ کال د جنوري میاشتو په مینځ کې بشپړ شو.

**د اصلي لاسته راو رنو لنډیز**

د دغې اوسنک کتني غوره تنیجه دا ده چې د اصلي څیړني را هیستي په مالي او اداري برخو کې خصوصاً په سیه ییزه کچه پرمختګ شوی دی:

- تنخا اوس اکثره هره میاشت او له وخت سره سم ورکول کیږي
- د معاش پرته لګښتونو بیلانس ته لاس رسنه زیاته سمه شوي ده خصوصاً په ډېرخوارو ولایاتو کې
- مالي راپورونه اکثره به وخت تسلیمیږي
- د لګښتونو او مالیاتو حسابونه سم کار کوي
- که څه هم د حسابونو اغیزه نا معلومه وه خو د حسابي چارو بیلانسونه جوړشوی دی

خو لا اوس هم د پام وړ مسایل شته چې باید په ګوته شي:

- لا اوس هم د خلکو ستر شکایت د تنخاوو لږوالي دی
- په زیاتو مواردو کې تخصیص او تشکیل په ځنډ سره رسي او د تخصیص د تادیی په برخه کې بندښت را منځته کیږي،

او د وزارت د تخصیص او د مستوفیت د تخصیص پانو تر مینځ توپیر موجود دي.

- غیرمعاشي توزیع یا تخصیص کم دي او د ولایاتو تر مینځ بي عدالتي لا اوس هم موجوده ده
- لا اوس هم د لاس لیکل شویو لاربنودونو کمي حس کیږی او زده کړي ته اړتیا شته
- د زده کړي د بودجي اداره لا اوس هم یوه ستره لانجه ده

د استخدامولو او گمارلو په اړوند یو څه تغیرات راغلي دي. لوړرتبه گمارني د اداري سمون او مدني تولني ناپایېلي کمیسیون له لاري کیږي، خو لا اوس هم نژادي او سیاسي تړون په استخدامولو کې په څرگنده توگه ښکاري. او د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو تجدید په پیژندلو کې هم لږ فعالیت ښکاري، خو لا تر اوسه پوري دغه سمون د تنخاوو د زیاتولو یوه لاره ښکاري، او هغه څوک چي پرځاي پاتي شوي خوابدي دي.

انسجام په ولایتي کچه روان دي خو داچي څومره اغیزمن به وي معلومه نده. او په ځیني ځایونو کې د ملي پیوستون پروگرام (NSP) بریالي ښکاري، خصوصاً د تولني د حیثیت په جوړونه کي.

زیات مسایل چي په دغه راپور کې پیژندل شوي دي په آسانه توگه په گوته کیږي. د څیړني د سپارښتنو خلاصه د دغه راپور په اخره کې د پریکړو او سپارښتنو په فصل کې ذکر شوي دي.

## ۲. د ولایاتو سرترسره حمایه

څنګه چې مخکې معلومه شوه اصلي څېړنه د مرکزي دولت د سیمه ییزي اداري او هغه میکانیزم چې د خدماتو د وړاندی کولو حمایه کوي، انتقادي وه. د هغه اندازی د ارځونی د پیل ټکی له پاره چې دولت د سیمه ییزي اداري دپاره خپله سرترسري حمایه پراخه کړي ده دا ضروری ده چې دولت د کارمندانو ګومارنه او د معاشې پرته لګښتونه وڅاري.

لمړي شکل دا څرګندوی چې، د کال د پاي له تخفیف څخه وروسته د ولایتونو په کچه په راپوروکې ګډ وډي او بیرته پاتي کیدنه او په کابل کې د کارمندانو د کړنلاره د کارمندانو لړوالی، او د ولایاتو په کچه د کارمندانو زیاتوالي موجود دی.

خوبیاهم لکه په دویم شکل کې چې بریښی د کارمندانو زیاتوالي یوازي د معارف په دفاتروکې څرګندیږی، او په نورو ځانګو کې دغه کړنلاره کاملاً نشته او یا سرچپه روانه ده. دغه نتیجه د ولایاتو د مسالی په اړه په شویو مرکوکې څېړنه کې تایید شوي وو. او، یو ځل چې د هغوی شمیره معلومه شې نو د ټولو ولایاتو په پرتله ډیر کارمندان به په مرکز کې استخدام شي.

هیڅ شک نشته چې ښوونه او روزنه د حکومت دپاره غوره ده بیاهم په جوته توګه دی ته ځای شته چې د خدماتو د وړاندی کولو له پاره د نورو وزارتونو د کارکوونکو د شمیر په بیلانس بدلون راشی. په لومړی سیمه ییزه څېړنه د معاش پرته لګښتونه د یوی غوره مسالې په پیژندل شوې دی، په تیره بیا په هغو ولایتونو کې چې عوایدو ته لار نه لری او یا په عمومی توګه په ولسوالیو کې کارمندان باید په عمومي توګه میزان شي. د تخصیص د وړتیا په هکله بحث شوي وو، یوي بیلګې داسي ښکاره کړه چې د غیرمعاشې لګښتونو یوه بې تناسبه برخه په مرکز کې ساتل شوي وه. لاهم ترټولوستره مساله د پیسو نشتون وو؛ هغو ولایاتو چې مالیاتي عواید نه درلوده په دي نشوتوانیداي چې حتي یو لږه اندازه د تخصیص چې هغوي ته ورکول کیده په مصرف ورسوي، دا د دي له پاره چې دغه محدوده پیسي به د کال په پاي کې هغوي ته ور رسیدلې.

د نغدو پیسو د شتون مساله په مفصله توګه وڅارل شوه. په ولایاتو کې د ځانګړي حساب قطعي بیلانس ته د لاس رسني په هکله لا تر اوسه مسالې شته، چې وروسته به په پاڼه کې پرې مباحثه وشې. خو بیا هم د هغو ولایاتو د پاره چې مالیاتي عایدات نه لري معاش پرته لګښتونه له ۱۳۸۱ کال را په دې خوا ښه شوې دې. لمړي جدول د ۱۳۸۱ او ۱۳۸۲ کال د معاش پرته لګښتونو ښوول شوې مصارف لنډیز ښکاروي، او دریم شکل د معاش پرته مصرف د ټولو لګښتونو د برخې په توګه په ولایاتوکې د شپړو موضوعي څېړنو له مخې ښکاروي.

**لومړی شکل: غیر نظامی، یا د دولت هغه ملکي کارکوونکې چې معاش یې تادیه شوې دي**




یادونه: د هرات د ۱۳۸۲ کال ډیټا موجوده نوه، او د ۱۳۸۳ کال له ډیټا څخه ډډه وشوه

منبع: د سر شمیرنی ډیټا بیز، د افغانستان د بیا رغونی د امانت سرمایه د تفتیش نماینده.

**دوهم شکل: غیر نظامی، یا د دولت هغه ملکي کارکوونکې چې معاش یې تادیه شوې دي – د ښوونې او روزنې د وزارت څخه پرته**




یادونه: د هرات د ۱۳۸۲ کال ډیټا موجوده نوه، او د ۱۳۸۳ کال له ډیټا څخه ډډه وشوه

منبع: د سر شمیرنی ډیټا بیز، د افغانستان د بیا رغونی د امانت سرمایه د تفتیش نماینده.

په بل عبارت، د مرکزي حکومت حمایه له سیمه ییزي اداري څخه ښه شوي ده، خصوصاً د مالي اداري په برخه کې. د بودجي او د هزیني د خپریدو په دوران کي. د مالي وزارت د مستوفیت د دفترونو له پاره لا څرګندي لارښودني کوي. په هغو ځانګو کې چې نوي او یا سمي شوي کړنلاري ورپیژندل کیږي تعلیمي سیمینارونه جوړیږي. او په هر مستوفیت کې د بیرینګ پوینت یو مشاور استخدام شوي دي ترڅو د نویو کړنلارو او د کمپیوټري تکنالوژي پیژندنه آسانه کړي. تر هغو چي د دغو حمایتي میکانیزمو د ښه والي له پاره یقیناً ځاي شته، نو دغه میکانیزمونه مفید دي.

راتلونکې ځانګړي برخي د اصلي څیړني پر ځینو اساسي مسالو او بدلونونو باندي چې پکښې راغلي، تمرکز کوي.

لومړي جدول: غیر معاشي لګښتونه، ۱۳۸۱ – ۱۳۸۳ (د میلیون په کچه)

| | د ۱۳۸۱ کال لګښتونه | د ۱۳۸۲ کال لګښتونه | د ۱۳۸۳ کال بشپړ تخصیص |
|---|---|---|---|
| بدخشان | ۱۶،۰ | ۴۹،۲ | ۷۶،۷ |
| بامیان | ۲،۸ | ۴۰،۳ | ۳۵،۴ |
| فاریاب | ۶،۲ | ۲۸،۲ | ۴۸،۸ |
| هرات | ۷۴۵،۰ | * ۱.۵۴۹،۱ | ۱۱۱،۳ |
| قندهار | ۵۰۸،۰ | ۶۴۶،۸ | ۱۲۱،۸ |
| وردک | ۱۱،۶ | ۳۳،۹ | ۲۹،۷ |

*هرات کې، په ۱۳۸۲ کال کې ستره تادیه د بیارغوني په وزارت کې د خزاني ځانګړي حساب د بشپړیدو نه مخکي، وشوه.

دریم شکل: له معاشي پرته لګښتونه، د ولایاتو د جمله لګښتونو د برخي په توګه، چې ۱۳۸۱ کال له ۱۳۸۳ سره په تله شوی دی




منبع: ایوانس، منګ او نور اشخاص، ۲۰۰۴ کال، د افغانستان د مالي وزارت د معلوماتي سیستم ډیټا بیز (AFMIS database)، د ۲۰۰۴ کال د ډیسمبر د میاشت ۱۵مه نیټه.

## ۳. د ولاياتو مالي تخصيص او د بودجې اجرا

### ځانګړي ماليات او د لګښتونو حساب

په اصلي سيمه ييزه څېړنه کې يوه اصلي لاسته راونه دا وه چې د ولاياتو په کچه د لګښتونو نمونه په ډېره عجيبه توګه توپير کوي او په دې اړه لرې چې آيا دغه ولايت مالياتو ته لاس رسنه درلوده که نه. د هغه رپورټ د ۱۳۸۱ کال د ډېټا تحليل داسې څرګندوي چې د هغه ولاياتونه چې د لګښتونو له پاره په زياته اندازه او يا په بشپړه توګه په کابل پورې متکي وو، زياتره لګښتونه د تنخاوو له پاره لګيدل، د باميانو په هکله نسبت د ۱.۹۵ فيصدو په اندازه لوړ وو. يوازې هغو ولاياتو چې ګمرکې مالياتو ته يې لاس رسنه درلوده معاش پرته لوړ لګښتونه يې کول، او څرګنده ده چې له لازمه حد او خپلې برخې څخه يې زيات مصرف کاوو.

په داسې حال کې چې د ۱۳۸۲ کال په اوږي کې حکومت ځانګړي عايدات او حسابونه معرفي کړل. د دغه سيستم په مرسته ټول دولتي عايدات چې پخوا به په خاص ولايت کې راغونډيدل اوس په يو ځانګړي حساب کې ذخيره کيږي. او د دغه عايداتو حساب په کابل کې د مالي وزارت له خوا اداره کيږي او ولايتي مقامات هيڅ ډول لاس رسنه ورته نه لري. ولايات يوازې کولاي شي چې د لګښتونو له حساب څخه فند واخلي، او د دغه حساب ميزان د مالي وزارت د خزانې رياست له خوا اداره کيږي. د دغه سمون نتيجه رسمي دولتي عايداتو ته د ولايتي مقاماتو د لاس رسنې غوځول، او د دغو حسابونو مصرفول د مالي وزارت د تخصيص او د نغدي پيسو په اداره باندې محدودول وو.

که څه هم دغه د پرمختګ يو مثبت قدم دی، خو دا په دې معنا نده چې دغه ولايات پس له دې غير رسمي عايداتو ته لاس رسنه نه لري. خو اند داسې دي چې دغو اصلاحاتو نورو عايداتي زيرمو ته لاس رسنه ډيره زياته سخته کړې ده. خو لازمه ده چې دغه فعاليتونه ادامه ولري. لمړي چوکاټ د کندهار ولايت يوه نمونه وړاندې کوي.

د لګښتونو په اړوند، د ځانګړو عايداتو او لګښتونو د حساب د ورپيژندنې ستر اثر د نا برابره لګښتونو کموالى دی چې په اصلي څېړنه کې مستند شوي وو، دويم جدول د ټولو شپږو څېړنيزو ولاياتو د ۱۳۸۳ کال د لمړيو نهو مياشتو واقعي لګښتونه ښکاروي.

همدارنګه د بودجې د اجرا نمونې هم اصلاح شوي دي. دريم او څلورم جدول د شپږو ولايتونو له پاره د بودجې اجرا(واقعي لګښتونه د تخصيص د فيصدي په ډول) د ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کلونو له پاره د کټګورۍ له مخې ښکاره کوي. په داسې حال کې چې په ۱۳۸۲ کال کې د کندهار او هرات ښار په عايد لرونکو ولسواليو کې د مصارفو خاص زياتوالى ادامه درلوده، د ۱۳۸۳ کال په لومړي نهو مياشتو کې ټول شپږ ولايات د لګښتونو له پلوه د مقايسې وړ يو معيار ښکاروي.

**لمړي چوکاټ: د کندهار نيمه رسمي د واردولو او بير استولو ماليه**

داسې راپور شوي وو چې کندهار د واردولو او بيراستولو يو ډول نيمه رسمي ماليه راغونډوي او دغه عايدات د قانوني ګمرکي مالي برسيره په سوداګرانو باندې تحميليدو. او دا پيسې د افغانستان بانک (DBA)د کندهار ځانګړي په يو خاص حساب کې زخيره کيدلې. د افغانستان بانک د ريس د وينا په مطابق دغه پيسې د بيا رغونه په پروسه باندې لګول کيږي او د مستوفيت له د لارې کومه مرحله نه لري. د والي معاون چک صادروي او هغه يوازنې مقام دې چې فند راکښلې شي. د ۱۳۸۳ کال د لومړي اووه مياشتو له پاره بشپړراغونډ شوي فند ۱۴۶ ميليونه افغاني وو.

| دوهم جدول: د کټګورۍ له مخې د ولایاتو د لګښتونو بشپړه برخې، د ۱۳۸۳ کال لمړنۍ نه میاشتې | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | بدخشان | بامیان | فاریاب | هرات | کندار | وردک |
| شخصي تنخا | ٨۴.٢٪ | ٦٩.٢٪ | ٧٥.٩٪ | ٧٢.٩٪ | ۴١.٩٪ | ٧٥.١٪ |
| خدمات | ٠.٥٪ | ٢.١٪ | ٠.٧٪ | ٢.٥٪ | ٠.٥٪ | ١.١٪ |
| مواد او جنسونه | ١٢.١٪ | ١٠.٢٪ | ١٣.٢٪ | ٢٢.٨٪ | ١٥.٧٪ | ٦.٢٪ |
| مراقبت او ترمیمول | ١.٦٪ | ١.٨٪ | ١.٩٪ | ١.٠٪ | ٠.٥٪ | ١١.٢٪ |
| ځمکه، جوړښت او سامان | ١.۴٪ | ١.۴٪ | ٢.٦٪ | ٠.٨٪ | ٣٩.٩٪ | ١.٧٪ |
| مالي مرستې، اعانه، اهدا او تقاعد | ٠.٢٪ | ١٥.٢٪ | ٥.٩٪ | ٠.١٪ | ١.۴٪ | ۴.٦٪ |
| د غیرمعاشي بشپړ لګښتونه | ١٥.٨٪ | ٣٠.٨٪ | ٢۴.١٪ | ٢٧.١٪ | ٥٨.١٪ | ٢۴.٩٪ |
| د ټولو جمله | ١٠٠.٠٪ | ١٠٠.٠٪ | ١٠٠.٠٪ | ١٠٠.٠٪ | ١٠٠.٠٪ | ١٠٠.٠٪ |

منبع: د افغانستان د مالي اداري معلوماتي سیستم ډیټابیز، د ۲۰۰۴ کال د دیسمبر د میاشتې ۱۵مه.

| دریم جدول: دولایتی بودجې مصرفول د تخصیص د فیصدی په توګه د لګښتونو د کټګوری له مخی، کال ۱۳۸۲ | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | بدخشان | بامیان | فاریاب | هرات | کندهار | وردک |
| شخصي تنخا | ٧٧.٣٪ | ٩١.۴٪ | ٨٨.٩٪ | ٩٢.۴٪ | ٨٧.٧٪ | ٨٠.٨٪ |
| خدمات | ٣١.٧٪ | ٥٦.٣٪ | ٣٨.٨٪ | ٨٥٠.٧٪ | ١٣٠.۴٪ | ٧٥.٧٪ |
| مواد او جنسونه | ١٠٨.٣٪ | ١٠١.٩٪ | ٦٨.٢٪ | ٢۴٣.٧٪ | ١٠٢.٥٪ | ١١١.٣٪ |
| مراقبت او ترمیمول | ٩٨.٢٪ | ٩٣.٩٪ | ٧۴.٨٪ | ٨٥٩.٨٪ | ٢٠٥۴.٧٪ | ١٠٨.٧٪ |
| ځمکه، جوړښت او سامان | ٥٧.١٪ | ٩٨.٥٪ | ٥٩.٢٪ | ١٣٨٩.٢٪ | ٢٧٦.٦٪ | ٨۴.٩٪ |
| مالي مرستې، اعانه، اهدا او تقاعد | ۴۴.٨٪ | ٩٩.٨٪ | ١٠٢.٠٪ | ٢٢٥.٣٪ | ١٢٧.٣٪ | ١٠١.٩٪ |
| د غیرمعاشي بشپړ لګښتونه | ٩٦.١٪ | ٩٦.٨٪ | ٦٩.٢٪ | ٦٦٣.١٪ | ٢٣٥.٥٪ | ١٠١.٥٪ |
| د ټولو جمله | ٨٠.٠٪ | ٩٢.٨٪ | ٨٥.٠٪ | ٢٣٢.٠٪ | ١٣۴.٥٪ | ٨٥.١٪ |

منبع: د افغانستان د مالي اداري معلوماتي سیستم ډیټابیز

| څلورم جدول: د ولایتی بودجې مصرفول د تخصیص د فیصدی په توګه د لګښتونو د کټګو ری له مخې، د ۱۳۸۳ کال لومړنۍ ۹ میاشتې | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | بدخشان | بامیان | فاریاب | هرات | کندهار | وردک |
| شخصي تنخا | ٧٣.٥٪ | ۴٩.۴٪ | ٥٨.٣٪ | ٧٩.٩٪ | ٥٨.٩٪ | ٧٣.١٪ |
| خدمات | ٣٣.٥٪ | ٦٥.٧٪ | ١٩.٠٪ | ٦٢.٥٪ | ٣٧.٣٪ | ٥٦.٠٪ |
| مواد او جنسونه | ٩٦.٣٪ | ٨٠.۴٪ | ٧١.١٪ | ٩٧.٦٪ | ١٠٠.١٪ | ٧۴.٧٪ |
| مراقبت او ترمیمول | ٥٩.١٪ | ٣٩.٩٪ | ۴٣.٢٪ | ۴۴.١٪ | ٣۴.١٪ | ١٥٣.۴٪ |
| ځمکه، جوړښت او سامان | ٦٨.۴٪ | ٧٢.٧٪ | ٩٣.١٪ | ۴٩.٣٪ | ٨۴.٣٪ | ٦٦.٠٪ |
| مالي مرستې، اعانه، اهدا او تقاعد | ٢.٣٪ | ٧٢.٥٪ | ٦٦.٠٪ | ١.٥٪ | ٦۴.٥٪ | ٧٥.٦٪ |
| د غیر معاشي بشپړ لګښتونه | ٦٠.٥٪ | ٧٠.٩٪ | ٦٣.٦٪ | ٧٣.٥٪ | ٨٥.٣٪ | ٩۴.٦٪ |
| د ټولو جمله | ٧١.١٪ | ٥۴.٥٪ | ٥٩.٥٪ | ٧٨.١٪ | ٧١.٨٪ | ٧٧.٥٪ |

منبع: د افغانستان د مالي اداري معلوماتي سیستم ډیټابیز، د ۲۰۰۴ کال د دیسمبر د میاشتې ۱۵ مه.

شلورم شکل د ۱۳۸۱ کال د عمومي بودجي اجرا څرنګه چې په اصلي څېړنه کې لیکل شوي وه، مقایسه کوي. پنځم جدول د شپږو ولایاتو د ۱۳۸۳ کال د لمړني نهو میاشتو له پاره د بودجي اجرا چې د مربوطه وزارت له خوا تحلیل شوي وه، ښکاروي.

که څه هم دغه تحلیلونه په تیرو دوو کلونو کې د بودجي په اجرا کې یو ډول خاص پرمختګ په ګوته کوي خو لا اوس هم اساسي مسالي شته چې د ولایاتو په کچه د بودجي اجرا یا محدودوي او یا یې ټالوي. د تنخا اخیستونکو د لست په هکله په بله برخه کې پر خاصو مسالو باندي مباحثې شوي دې. د دغه برخي بیلانس د ولایتو د تخصیص په وخت سره د رسیدلو او د ځانګړي حساب د بدلونو وړتیا باندي بحث کوي. برسیره پر دي، ولایاتو ته د تخصیص د اداري له پاره د لا زیاتو آسانتیاوو د تیارولو د اثر په هکله او همدا رنګه د ولایاتو د رپورت ورکولو د پروسي د ښه والي له پاره خبري شوي دي.

**په وخت سره د تخصیص رسیدل**

څنګه چې په اصلي څېړنه کې د سند په شکل سره څرګنده شوه، تر څو چې ولایتونه خپل دري میاشتني تخصیص له مرکز څخه لاسته رانه وړي نشي کولاي چې هیڅ لګښتونه اجرا کړي. په تیر وخت کې هر وزارت هرو مرو خپل هری یوي ولایتي ځانګي ته دري میاشتني تخصیص په ۲۰ب پانه کې ور واستوي. په همدغه وخت کې مربوطه وزارت به د ۲۰ب پاڼې یوه کاپي مستوفیت ته وراستوي. کله چې مستوفیت د دغې پاڼې یوه کاپي لاسته راوړي نو یوازي د تادیې صلاحیت به ورکړي. کله چې د تخصیص د رسید وخت په اصلي څېړنه کې د یوی ستري ستونځي په ډول پېژندل شوي نه وو، د تخصیص دراکړي او درکړي د ټالولو یو ستر عامل وو.

کوم پرمختګ چې په ۱۳۸۳ کال کې شوي دې هغه دا دی چې مستوفیتونو ته د ۲۰ب پاڼې د استولو پوره مسؤلیت اوس د مالي وزارت په غاړه ده په داسي حال کې چې پخوا به دا مسؤلیت د مربوطه وزارتونو په غاړه وو. سره له دي چې وزارتونه د مالي وزارت ته د دغه پاڼې په ورکولو کې ځنډ کوي. د ولایتي کارمندانو سره د مرکې پر بنسټ، څنګه چې ضروري ده محدوده وزارت خانې پر دي بریالي کیږي چې دغه پاڼې د دغه دري میاشتني په ټاکلي وخت سره وسپاري. ځیني ولایتي ځانګي خپل تخصیص د دغه دري میاشتني دوران په لومړي میاشت کې لاسته راوړي؛ او څو څرګنده ځانګو ته د دغه دوران په دوهمه میاشت کې ور استول کیږي، او لړه ګڼه یې د دغه دري میاشتني دوران یوازي په وروستني میاشت کې لاسته راوړي. او له دغه واقعت سره چې د دوهمي، دریمي او څلورمي دوري تخصیص په دوه ځلو صادریږي، دا مساله نوره هم پیچلې کیږي. له دي کبله د مالي وزارت باید په هره میاشت کې د یوه تخصیص نوي نوي پاڼې مستوفیتونو ته ور واستوي. د مستوفیتونو ټولو مامورینو د تنخاوو او د معاش پرته لګښتونو د پروسي د ټالولو تر ټولو عمومي دلیل د تخصیص د رسید ځنډ وګاڼه.

شلورم شکل: د ولایت د تخصیص د فیصدي په پرتله د بودجې مصرفول، له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۳ کال پورې




منبع: ایوانس، مننګ او نور اشخاص، ۲۰۰۴ کال، د افغانستان د مالی وزارت د معلوماتی سیستم ډیټا بیز (AFMIS database) ، د ۲۰۰۴ کال د ډیسمبر د میاشت ۱۵مه نیټه.

| پنځم جدول: د ولایتی بودجې مصرفول د وزارت له خوا د تخصیص د فیصدی په بنه، د ۱۳۸۳ کال لمړي نه میاشتې | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | وزارت | بدخشان | بامیان | فاریاب | هرات | کندهار | وردک |
| ۱۱۰ | ستره محکمه | ۸۷،۵۰٪ | ۳۰،۶۷٪ | ۲۰،۶۱٪ | ۷۶،۱۰٪ | ۷۱,۸۰٪ | ۹۸,۴۰٪ |
| ۲۰۰ | مالیې | ۷۸.۸۰٪ | ۲۰،۸۶٪ | ۶۰.۶۶٪ | ۶۶,۱۰٪ | ۷۱,۳۰٪ | ۹۸,۶۰٪ |
| ۲۲۰ | دفاع | ۹۳.۴۰٪ | ۴۱.۹۰٪ | ۵۳.۲۰٪ | ۱۰۱,۷۰٪ | ۴۰,۸۰٪ | ۹۳,۹۰٪ |
| ۲۳۰ | بهرنیو چارو | | ۶۰.۰۰٪ | | ۷۵,۰۰٪ | ۱۰,۷۰٪ | |
| ۲۴۰ | حج او اوقاف | ۷۵.۷۰٪ | ۷۸.۵۰٪ | ۶۴.۱۰٪ | ۵۶,۱۰٪ | ۴۸,۱۰٪ | ۶۳,۲۰٪ |
| ۲۵۰ | سوداګري | ۶۰.۹۵٪ | | ۴۹.۸۰٪ | ۵۵,۶۰٪ | ۵۰,۵۰٪ | |
| ۲۶۰ | کورنیو چارو | ۸۹.۱۰٪ | ۷۲.۳۰٪ | ۸۴.۹۰٪ | ۸۳,۳۰٪ | ۹۲,۶۰٪ | ۱۰۵,۱۰٪ |
| ۲۷۰ | ښووني او روزني | ۷۳.۰۰٪ | ۵۱.۰۰٪ | ۵۵.۶۰٪ | ۷۷,۲۰٪ | ۷۶,۹۰٪ | ۷۷,۲۰٪ |
| ۲۸۰ | د لوړو زده کړو | ۶۴.۵۰٪ | ۶۰,۶۰٪ | ۴۰.۸۰٪ | ۶۸,۴۰٪ | ۶۱,۷۰٪ | |
| ۲۹۰ | د مهاجرینو راستنیدلو | ۶۰.۴۰٪ | ۶۸.۳۰٪ | ۵۷.۷۰٪ | ۵۶,۲۰٪ | ۴۴,۴۰٪ | ۶۵,۷۰٪ |
| ۳۱۰ | پلان | | ۶۵.۸۰٪ | | ۴۲,۴۰٪ | ۵۸,۴۰٪ | |
| ۳۲۰ | د صنایع او کانونو | | | | ۷۸,۷۰٪ | | |
| ۳۳۰ | د خواړو او سپکو صنایعو | | | | ۷۳,۵۰٪ | | |
| ۳۴۰ | مخابراتو | ۵۱.۵۰٪ | ۵۱.۹۰٪ | ۴۲.۱۰٪ | ۵۰.۶۱٪ | ۳۶,۰۰٪ | ۳۶,۹۰٪ |
| ۳۶۰ | اطلاعاتو او کلتور | ۵۷.۰۰٪ | ۳۵.۶۰٪ | ۴۵.۴۰٪ | ۷۲,۰۰٪ | ۳۳,۳۰٪ | ۶۹,۲۰٪ |
| ۳۷۰ | عامه روغتیا | ۴۹.۱۰٪ | ۳۳.۲۰٪ | ۳۸.۵۰٪ | ۷۸.۶۰٪ | ۴۳,۳۰٪ | ۱۷,۸۰٪ |
| ۳۸۰ | د ښځو چارو | ۵۵.۵۰٪ | ۶۷.۲۰٪ | ۵۱.۸۰٪ | ۵۳.۸۰٪ | ۴۳,۵۰٪ | ۴۲,۸۰٪ |
| ۳۹۰ | کرني او روزني | ۹۲.۹۰٪ | ۸۴.۵۰٪ | ۷۷.۷۰٪ | ۹۲.۶۰٪ | ۸۲,۰۰٪ | ۷۱,۳۰٪ |
| ۴۰۰ | د اوبوني او اوبو | ۷۰.۱۰٪ | ۵۱.۵۰٪ | ۵۰.۹۰٪ | ۷۰.۵۰٪ | ۴۳,۳۰٪ | ۶۷,۰۰٪ |
| ۴۲۰ | عامه فوایدو | ۹۰.۰۰٪ | ۹۲.۳۰٪ | ۳۲.۶۰٪ | ۵۸,۰۰٪ | ۴۲,۰۰٪ | |
| ۴۳۰ | د کلیو د پراختیا او بیارغونی | ۴۲.۳۰٪ | ۳۴.۷۰٪ | ۴۰.۹۰٪ | ۵۷,۵۰٪ | ۴۴,۴۰٪ | ۵۰,۰۰٪ |
| ۴۴۰ | شهدا او معلولینو | ۲.۹۰٪ | ۷۳.۱۰٪ | ۶۵.۲۰٪ | ۲.۷۰٪ | ۶۵.۷۰٪ | ۷۳.۹۰٪ |
| ۴۵۰ | ټرانسپورټ | ۷۴.۲۰٪ | ۶۶.۹۰٪ | ۶۳.۸۰٪ | ۸۶.۹۰٪ | ۶۰.۴۰٪ | ۵۹.۵۰٪ |
| ۴۶۰ | سرحداتو | ۲۰.۲۰٪ | ۵۵.۹۰٪ | ۴۳.۷۰٪ | ۳۸.۸۰٪ | ۶۷.۰۰٪ | ۶۰.۵۰٪ |
| ۴۷۰ | کار او ټولنیزو چارو | ۶۳.۴۰٪ | ۹۵.۰۰٪ | ۲۸.۴۰٪ | ۷۸.۶۰٪ | ۶۴.۷۰٪ | ۳۳.۷۰٪ |
| ۴۸۰ | ملکې هوانوردي | ۴۰.۱۰٪ | ۷۳.۴۰٪ | ۷۴.۲۰٪ | ۶۴.۱۰٪ | ۲۱,۳۰٪ | |
| ۴۹۰ | ښاري پراختیا | | | | ۵۳.۲۰٪ | ۶۰.۷۰٪ | |
| ۵۰۰ | عدلي | ۷۳.۴۰٪ | ۳۹.۰۰٪ | ۶۱.۵۰٪ | ۱۲۹.۳۰٪ | ۱۳۸.۹۰٪ | ۷۵.۰۰٪ |
| ۵۱۰ | لوي څارنوالي | ۷۸.۴۰٪ | ۶۵.۴۰٪ | ۵۷.۶۰٪ | ۷۷.۶۰٪ | ۷۹.۸۰٪ | ۷۶.۶۰٪ |
| ۸۰۳ | د ملي المپیک کمیټه | ۸۱.۵۰٪ | ۷۲.۴۰٪ | ۵۳.۹۰٪ | ۴۹.۵۰٪ | ۲۸.۵۰٪ | ۴۰.۵۰٪ |
| ۸۰۵ | جودیسي او کارتوګرافي | ۵۷.۸۰٪ | | ۵۲.۶۰٪ | ۵۶.۰۰٪ | ۸۱.۶۰٪ | |
| ۸۰۶ | د مرکزي احصاي یې دفتر | ۵۷.۸۰٪ | ۸۸.۰۰٪ | ۳۸.۶۰٪ | ۶۱.۴۰٪ | ۶۰.۵۵٪ | ۶۰.۱۰٪ |
| ۸۰۸ | د ناورینو د اداري سازمان | | | | ۵.۶۰٪ | ۲۵.۸۹٪ | |
| | ټول | ۷۱.۱۰٪ | ۵۴.۵۰٪ | ۵۹.۵۰٪ | ۷۸.۱۰٪ | ۷۱.۸۰٪ | ۷۷.۵۰٪ |

د مالي وزادت له لاري مستوفي ته د تخصیص د استولو شیوه د تیري شیوي یو څرګنده پرمختګ دي، خو د واقعي اغیزمنیدو له پاره غوره ده چې ټولي وزارت خاني اصولو ته غاړه کیږدي او د هیلي سره سم تخصیص باید ولایاتو ته د دري میاشتني دوري څخه مخکې واستول شي. یو پیشنهاد د کتني لاندي دي چې د مالي وزارت د هري ثانوي بودجوي واحد له پاره دي د مالي وزارت د عایداتو پر بنسټ یو کلنیز مالي پلان (له ولایاتو سره سره) جوړ شي او بیا د دغه پلان له لاري د دري میاشتني تخصیص د دري میاشتني دوري په پیل کې نیغ په نیغه مستوفیت ته صادر شي. وزارتونه کولاي شي چې د کال په دوران کې ځانونه برابر کړي، خو دا به د هر تخصیص صادر ونه ټالوي. د دغي ګړنلاري بشپړونه به د تخصیص ناوخته صادرول له منځه یوسي.

**د ځانګړي منفردو لګښتونو په حساب کې د مثبتو بیلانسونو ورتیا**

یو ځل چې د مستوفیت دفترونه د ولایتي ځانګو دري میاشتني تخصیص لاسته راوړي نو بیا له هغه وروسته کولاي شي چې د تنخاوو او غیرمعاشي لګښتونو پروسه پیل کړي. په داسي حال کې چې مخکې له دي چې د تخصیص په مقابل کې چکونه صادر شي د مستوفیت دفاتر باید دا ثابته کړي چې د لګښتونو په ځانګړي حساب کې د چکونو له پاره پوره پیسي موجودي دي.

د خزانې ریاست چې د مالي په وزارت کې دي د مثبتو بیلانسونو په ځانګړي حساب باندي د اړولو مسؤلیت په غاړه لري. د مالي وزارت د ۱۳۸۳/۸ کال د متحدالمال مکتوب پر بنسټ د خزانې ریاست دامسؤلیت لري چې مثبت بیلانسونه چې د تخصیص پر بنا ولاړ دي د ولایت د لګښتونو ځانګړي حساب ته د هري میاشتي له ۲۰مي نیټي څخه مخکې ورانتقال کړي او د دغه انتقالولو پر بنسټ د افغانستان بانک باید اطمینان ورکړي چې د نغدو پیسو تیارول د میاشتي له ۲۵مي نیټي څخه زیاتي ونه ځنډیږي. د راپور ورکولو له ضروریاتو سره د ولایاتو د منبنت د ډاډ له پاره، د مثبتو بیلانسونو د انتقال وخت هم په مستوفیت پوري اړه لري چې میاشتني لګښتونه او عایدات په وخت وسپاري.

په ربښتیا سره چې هغه ګړنلاري چې د خزانې ریاست له خوا د فنډونو د جریان او د بودجي د اجرا د حمایې د قانوني کولو له پاره د ولایاتو په کچه جوړي شوي دي د ۱۳۸۱ او د ۱۳۸۲ د اوایلو په کچه یو خاص برمختګ کنګل کیږي. د دغو ګړنلارو د بشپړوني د یوي برخي په توګه، د خزانې ریاست د تفتیش یو سیستم منځته راوړي چې د لګښتونو میاشتني راپور(له م ۲۳ څخه)، او هغه نیټي په اساس چې دغه پاڼي لاس ته راځي او مثبت بیلانسونه د ولایاتو د لګښتونو په حساب کې راغونډیږي، د ولایاتو د تادیې ځرک مومی. د خزانې ریاست د دغو معلوماتو په مرسته هغه مبلغ چې د لګښتونو حساب ته انتقال شوي برابر وي او همدارنګه د مصارفو واقعي نموني په حساب کې نیسي.

د دغه تفتیشي سیستم شاه ته چې کوم مقصد پروت دي - هغه دا دی چې د مثبتو بیلانسونو ورتیا ډاډه کړي او په عین حال کې د بیلانسونو غونډیدل هم کم کړي - چې بي له شکه اهمیت لرونکې خبره ده. خو بیا هم د ولایتي ماموریتونو په دوران کې داسي ښکاره شوه چې د دغه سیستم بشپړونه ځینو ولایاتو ته جدي ستونځي پیدا کولي. د هغوی شکایت دا وو چې په ځنو میاشتو کې انتقال شوي پیسي دومره کمي وي چې د میاشتي لګښتونو ته نه پوره کیږي او یا دومره په ځنډ سره انتقال کیږي چې د هماغه میاشتي د تادیو پروسه پري نه بشپړیږي. د تادیې د جریان له تحلیل څخه وروسته داسي ښکاره شوه چې د تفتیش په سیستم کې د خزانې ریاست ستونځه دا وه چې اوس مهاله لګښتونه یې په حساب کې نه نیول. دغه سیستم د لګښتونو د ثبت له پاره پر میاشتني راپور پاڼه (م۲۳) چې د میاشتي په پاي کې را رسي، ولاړ دي نو ځکه د راپور شویو لګښتونو ځنډ ګرځي دا په داسي حال کې چې په مثبت بیلانس پاڼه کې لیکل شوي معلومات د اوس مهال دي. نو د تفتیش سیستم به هرکله له هغه څه نه چې واقعت دي د نغدو پیسو زیاتو بیلانس د پاڼو راپور ورکوي. کله چې دغه واقعیت د میاشتنیو مصارفو د کچې له غوره څرخونو سره جوړه شي، نو دا به د ولایاتو د نغدو پیسو د اړتیاوو د اټکل یوه ضعیفه لاره وي. د دغې ستونځي د اثبات له پاره، د ولایاتو د لګښتونو ځانګړي حساب ته د میاشتنیو لګښتونو د رپورټ او د مثبتو بیلانسونو د انتقال ډیټا مو د څیړنی لاندي شپږو ولایاتو څخه را غونډه کړه. د دغو معلوماتو/ډیټا له مخې د واقعي مثبتو بیلانسونو حساب د هري میاشتي په پاي کې د امکان وړ وو. د دغې اځونه شرح په لمړي ضمیمه کې او خلاصه یې په پنځم شکل کې ورکړ شوي ده. نتیجه څرګندوی چې د پنځو ولایاتو له پاره د کومو چې ډیټا را غونډه شوي، دا وی چې، د میاشت په پاي کې مثبت بیلانسونه له معمولي میاشتني مصارفو څخه له لسو ځلو څخه اوه ځلی ټیټ وو. په معمولي توګه د مثبتو بیلانسونو انتقال د میاشتي په ۱۸مه نیټه را رسیدل خو زیاتره وخت به د میاشتي په وروستنیو ورځو کې رارسیدل.

د ولایتي ماموریتونو په دوران کې د مستوفیت کارمندانو او همدارنګه نورو زیاتو کسانو دغه مساله یوه لویه ستونځه وګڼله. په فاریاب کې څېړونکو ته داسې وییل شوي وو چې هغوی په طبیعي ډول د غیرمعاشي تادیه وو د لګښتونو اسناد د میاشتې د لومړي او پنځه لسمي نیټي تر منځ او د تنخاوو لسټ د میاشتې د ۱۵مي او ۲۵مي نیټي تر منځ اجرا کوي، او بیا میاشتني رپوټونه د میاشتې په وروستنیو ورځو کې تیاروي. بیا نو ښکاره ده چې د میاشتې د پای له ټیټو بیلانسونو، او د دغو بیلانسونو د اجرا سره چې د میاشتې په پای کې پیښیږي، د ناکافي فندونو ستونځه راپورته کیږي. نور ولایتونه کیدای شي چې بل ډول مهال ویش ولري، او یا تادیه په هغه وخت کې اجرا کړي چې ضرورت او یا اماده ګي ولري، خو مساله هماغسې پاتې کیږي. عمومي کړنلاره داسې ده چې تر هغه وخت پورې چې پوره فند په حساب کې نه وي هیڅ چک باید صادر نشي، زیاتې تادیې تر راتلونکې میاشتې پورې نه اجرا کیږي. کله چې دغه شرایط پیښ شول، مستوفیانو داسې جوته کړه چې پیسې به د رومبي توب له مخې اجرا شي، که څه هم دا ښکاره ده چې مستوفي ټاکلی شي چې کومه تادیه رومبې اجرا کړي. ارزښت لري چې ووایو چې د نغدي پیسو نشتون چې د اصلي څیړني په دوران کې یوستره ستونځه وه په عمومي شکل سره کومه مساله نه وه.

ځینو مستوفیانو دا احساس لاره چې د لګښتونو حساب دې د دري میاشتني تخصیص په اندازه وی او د مثبتو بیلانسونو انتقال باید د دري میاشتني دوري په پیل کې وشي. په داسې حال کې چې د حل دغه لاره به د خزانې ریاست له پاره د نغدو پیسو اغیزناکه اداره ستونځمنه کړي، حتي د پیسو انتقال به د میاشتنی تخصیص سره سم دغه ستونځه ډیره آسانه کړي.

د نړیواله بانک د تخصیص په هکله مسوده دغه ستونځه تصدیقوي، او همدارنګه پیشنهاد کوي چې د مالي وزارت دې د بشپړه تمویل شویو تخصیصونو په لور ګام واخلي. که چیرې د دري میاشتني بشپړ تمویل شوي تخصیصونو صادرول د نغدو پیسو په جریان کې ستونځې راپیدا کوي نو کیدای شي چې لنډ مهاله تخصیصونه صادر شي، خو دابه د حل یوه غوره لاره وي چې د تصویب شویو تخصیصونو تمویلولو څخه ډډه وشي.

پاتې ستونځه چې د خزانې د ریاست له پاره غوره اندیښنه ده، هغه له یوې میاشتې تر بلې پورې د مصرف په کچه کې د نوسان خاصه اندازه ده. دغه نوسان تر یو حد پورې د تخصیص د رسید پاڼې د ځنډ او ځنډ له مخې چې د ټیټو لګښتونو د بیلانس له خوا را ولاړیږي، روښانه کیدای شي خو نه په بشپړه توګه د دغو عاملونو پر اساس. د ټولو هغو




پنځم شکل: د میاشتي د پای مثبت بیلانس د منځنی میاشتنی لګښتونو د نسبت په توګه

ولایاتو له پاره چې معلومات/ډیټا یې لاس ور رسیدونکې ده، د مثال په توګه، هیڅ یا په حقیقت کې هیڅ لګښت د مالي کال د لمړي میاشتي له پاره ښودل شوي نه وو. د تخصیص نشتوالي دا نشي روښانه کولای. د ولایاتو له خوا د لګښتونو میاشتني نمونو تحلیل ضروري دی، خو داسې تحلیل به لا اغیزمن وي که یو ځل دغه دوه غوره اثرات له حساب څخه و ایستل شي.

### د لګښتونو په اداره کولو کې لا زیاته آسانی

یو خاص توپیر چې سږکال یې په ولایاتو تاثیر وکړو هغه ولایاتو ته د لا زیاتې آسانې ورولي وو چې د لګښتونو تخصیص په کوچنیو کوډونو(بابونو) باندې واړوي.

د تاریخ له مخې د ولایاتو تخصیص به په سترو (باب) او وړو (فصل) کوډونو ویشل کیدل. د تخصیص دغه برخي د ولایاتو او یا مستوفیتونو له مداخلې څخه بغیر په کابل کې د مربوطه وزارت له خوا ځرګندیدلې. د کال په دوران کې که ولایاتو به دغو تخصیصونو کې کوم بدلون غوښتلو نو هغوی باید له وزارت څخه او په پای کې یې په کابل کې د مالي وزارت څخه اجازه غوښتې وای. د تصویب دغه کړنلاره د ولایاتو د مامورینو له پاره خاص خنډونه او ستونځې را پیښوې او حتي د خدماتو په سپارلو کې یې له ماتي سره مخامخ کوي. او د هغو غوښتنو بربنا چې هر کال د عیارولو له پاره کیږي، دغې پروسې د مالي وزارت په غاړه یو خاص بار آچولي دي. او داسې عقیده شته چې دا ډول کنټرول د رشوت او د کرایې د له منځه وړلو له پاره موقع رامنځته کوي.

د دغې مسالې د ښوولو له پاره د مالي وزارت اوس یوازې د سترو کوډونو (باب) په کچه تخصیص ورکوي. او بیا دا د ولایاتي ځانګو وظیفه ده چې فنډ د مصارفو پر کوچنیو کوډونو (فصل)

باندي څنګه وويشي. دا په داسي حال کې دي چې د واقعي لګښتونو راپور دي د فصل (کوچنیو کوډونو) په کچه وي.

ړونده مامورينو ته د دغه بدلون د پيژندلو د آسانتيا له پاره دې په ولاياتوکې د زده ګړي سمينار جوړ شي. سره له دي، د کار وسيلې په ولاياتو او وزارت خانوکې د پام وړ بدلون موندلي دي. د مثال په توګه، کندهار د خپلو ځانګو څخه غواړي چې خپل د تخصيص برخه د دري مياشتني دوري په پاي کې د فصل په کچه مستوفي ته وسپاري، او وروسته له هغه دغه د تخصيص برخه/سهم دې په دري مياشتني دوره کې جاري کړي. نور ولايتونه يې د ځانګو په غاړه پرېږدي. په باميان کې، مستوفي له ځانګو څخه غواړي چې د هغوي د تخصيص سهم له مستوفيت سره د فصل په کچه ثبت او وسپاري او د بدلونونو له پاره غوښتنه وکړي، خو مستوفي د بدلون په هکله هيڅ غوښتنه نه ردوي. په ډيرو کمو مواردو کې وزارتونه د فصل په کچه خپل تخصيصونه تياروي. د مثال په توګه په فارياب کې داسي ليدل شوي وو چې د ښوني اور روزني او کورنيو چارو وزارتونو خپل تخصيص د فصل په کچه تيارو، تر څو چې مستوفيت د تخصيص برخي جاري کړي. په بدخشان کې داسي ليدل شوي وو چې د د کليو د پراختيا او بيا رغونی او د ښوني او روزني وزارتونه تخصيص د فصل په کچه تياروي. په دغو مواردو کې، مستوفيت د تخصيص برخه جاري کوي او د تخصيص د برخې او د فصلونو تر منځ ټول بدلونونه بايد د اړوند وزارت له خوا تصويب شي.

د دغه بدلون په موخه د ولاياتو ليد ډير ګډ وډ وو په داسي حال کې چې څنو مامورينو خصوصاً هغو چې په اړونده وزارت کې يې کار کاوه په دغه بدلون خوښ وو، او د مستوفيت مامورينو دغه بدلون منفي ګاڼه، او داسي باور يې درلوده چې دا بدلون سواستفاده رامنځته کوي. د مثال په توګه، د ځانګې يو مشر کولاي شي چې د زيات عاجل لګښتونو د ضرورت په توګه اضافي فنډ د خپل دفتر له پاره ور په برخه کړي. په ۱۰۰۰۰ باب کې (تنخاوو او رخصت)، د فنډونو له اساسي تنخاوو څخه بخشش او اضافه کاري ته د جاري کولو قوت موجود دي. په داسي حال کې چې ولايتي ځانګو په نورمال ډول سره د کارمندانو د اضافه کاري او بخشش د تاديې له پاره پوره فنډ نه درلودو، د ماموريت په اوږدو کې تحقيق کوونکو داسي وموندله چې لږ تر لږه په دوو ولاياتو کې ورته ولايتي ځانګې کارمندانو ته هم بخشش او هم اضافه کاري ورکوله. د ولايتي ماموريت د کورس په اوږدو کې، نوري لاري پيشنهاد شوي وي، په هغو ځايونو کې چې په ولايتي کچه د تخصيص برخه د فصل په کچه د مستوفي يا حتي د والي له خوا اداره کيږي، خو بيا هم انديښنه دا وه چې تصميم نيوونکې به د شخصي ګټي له پاره د موقع څخه استفاده وکړي.

سره له دي چې مربوطه ماده وو باندي د مرکز د لږي اداري په لور حرکت صحيح دي او ډير ژر به د معاش پرته او غير سرمايوي بابونه پر ځانګړي تصنيف کې يوځاي کولو سره پراخ شي. دغه کار بين المللي سټاندارد لرونکې دي، او همداسي د هغو پرنسيبو لرونکې دي چې سيمه ييزه اداره کوونکې ښه پوهيږي چې د هغوي د لګښتونو ګډه اړتيا څه شي ده. سربيره پر دي دغه شيوه له کابل څخه د هر کوچني تعديل له پاره د تصويب د اجرا کولو لګښت له منځه وړي.

خوبيا هم، په بيلابيلو فصلونو کې د لګښتونو د ويش د اداري نماينده ګي په داسي شرايطو کې چې د حسابي ميکانيزمونو نوري لاري او د اداره کولو ښې لارې په ولايتي کچه نشته، ګواښمن کار دي. د دغه شان نماينده ګي د صلاحيت په غاړه اخيستلو له پاره په ضروري مهارتونو سره د منيجرانو تربيه کول د ښوونو د راتلونکې برنامو له پاره بايد يوه غوره پاملرنه وي. برسيره پر دي، د اعتبار د ټينګولو له پاره د ميکانيزمونو اړتيا ليدل کيږي؛ د مثال په توګه، دا به غوره وي چې د لګښتونو نخښې په وزارت خانو او ولاياتو کې وګوري او ډاډ حاصل شي چې هيڅ ډول بدورکې سواستفاده نه پيښيږي.

**مرکز ته په وخت سره سم راپور ورکول**

له اصلي څيړني څخه بله لاسته راونه دا وه چې ولايات د عايداتو او د لګښتونو په وخت او صحيح راپور جوړوني په کار کې کمزوري وو او دا په کابل کې د يوې جدي ستونځي په بڼه، خصوصاً د ولاياتو په کچه د نورو کنترولولو او معلوماتي زيرمو د نشتون په ذکر سره، وړاندي شوي وه.

دغو شرايطو په ناڅاپه ډول سره سمون موندلي دي. د خزاني رياست د راپور ورکوني د کړنلاري په هکله جوتې لارښووني کړي دي له دي اړتيا سره سره چې راپورونه دي د راتلونکې مياشتي په ۱۰مه نيټه وسپارل شي. د دغو راپورونو د نه را رسيدو له کبله د لګښتونو ځانګړي حساب ته د مثبتو بيلانسونو انتقالول ځنډيږي. په نتيجه کې، زيات ولايتونه اکثره راپورونه په وخت سره سپاري. او په دغه مساله باندي دواړو يعنی د ولاياتو مامورينو او د خزاني د رياست مامورينو ټينګار وکړ. په څنو مواردو کې د مفاهمې د پرمختلليو وسيلو نشتون د راپورونو په سپارلو کې ځند را پيښوي، خو اکثره ولايتونه کولاي شي چې راپورونه د يو شخص په لاس چې کابل ته سفر کوي را وليږي ، اکثره مستوفي او يا د بيرنګ پوينټ مشاور وی چې د هر مستوفيت له پاره مقرر شوي دي. خو لاهم دا د حل سمه لار نده، او د مفاهمې د ترتيب د عصري کولو له پاره هڅي په کار دي.

## ۴. د تنخاوو اجرا کول

یوه تر ټولو ستره تحمیلوونکې مساله چې په اصلي څیړنه کې راپور شوې وه هغه د تنخاوو د تادیې ځنډ وو، خصوصاً د ولایاتو او ولسوالیو په کچه. هغه راپور د تنخاوو د ځنډ اوه غوره دلیلونه معرفي کړل. د ځنډونو زیاتره دلیلونه په سیمو باندې د تنخا د اداره کولو د صلاحیت د ویشلو له کبله ده (له دې وروسته ولایتونو ته لازمه نه ده چې د تنخاوو اسناد د تادیه کولو د صلاحیت د لاسته راوړلو څخه مخکښې د مالي وزارت ته د تصویب له پاره وسپاري)، او هغه کړنلارې چې له ډیرو کلونو را په دې خوا ځاي پر ځاي دي، هغه دي بیا جوړې شي.

په نتیجه کې، د تنخاوو د مرحلې اوسنې کړنلاره ښه منل شوې او په روښانه توګه کار کوي. تر هغه وخت پورې چې تخصیص صادریږي او د لګښتونو په حساب کې پوره بیلانسونه شته، کارمندانو ته به تنخا تادیه شي او عموماً د میاشتې له پاي څخه مخکې. حتی په ولسوالیو تخصیص لاسته راوړې او نور یې لاسته نه راوړي. په بدخشان کې، په ډیرو لرې ولسوالیو کې لکه درواز، واخان او کران و منجان کې میاشتنۍ تادیه لا اوس هم ممکن نده. او د ژمي شرایط به لا زیات ځنډ تحمیل کړي. خو په ټولو شپږو ولایاتو کې د بامیان په شمول له ټینګار سره راپور شوي وو چې کارکوونکې د تنخا ورکوني له اوسني ترتیبونو سره خوشاله دي.

په سیمو باندې د تنخاوو د اداره کولو د صلاحیت ویشنې سره، داسې استدلال کیداي شي چې د تنخاوو پر جریان باندې اداره کمزوري شوي ده، له دې واقعت سره چې د مرکزي اداري له خوا تحمیل شوي پروسې په عمل کې بې اثره وې. خو باید داډه کړو چې د تنخاوو د حسابونو منظمه تصفیه د حساب د تصفیې د عمومي مامور د حساب د تصفیې اجندا د برخې په شان په نورماله توګه دغه خطر په ګوته کړي.

| شپږم جدول: د تنخاوو په اجرا کې د ځنډونو په ګوته کول | |
|---|---|
| **له اصلي څیړنې څخه د ځنډیدو دلیلونه** | **څه چې د حل له پاره شوې دي** |
| 1. ځني د ولایاتو کارمندان چې صلاحیت لرونکې وزارت تصدیق کړې نه دې ، د تنخاوو له لست څخه رټل شوي دي. | سره له دې چې د دغه د توجه له پاره کوم فعالیت نده شوې، خو بیا هم دا نور د یو خاصې لانجې په بڼه نده ذکر شوي |
| 2. تشکیل ناوخته تصویبیږي | که د ۱۳۸۳ کال تشکیل لاس رسیدونکې نه وي نو ځانګې کولاي شي چې د ۱۳۸۲ کال د تشکیل له مخې د تنخاوو واک ورکړي |
| 3. صلاحیت لرونکې وزارتونه داسې تخصیص صادروي چې تشکیل ورسره موافق نه وي، د ولایاتو په کچه | په ۱۳۸۳ کال کې بې ثباتي کمه شوې وه، خو په ښوونه او روزنه کې لا اوس هم یو جدي ستونځه شته |
| 4. ولایتونه او ولسوالي په داسې فکر کې دې چې هغو دې د M14 پاڼې یوازې په درې میاشتو کې یو ځل تیاري کړي | د ډیرو لږو استثناوو په شتون سره، په سیمه ییزو ادارو د تنخاوو د اداري د صلاحیت د ویشلو له آسانتیا سره، تنخاوې اوس میاشت په میاشت اجرا کیږي |
| 5. مستوفي مجبوره دي د تنخاوو لستونه کابل ته راوړي چې دا یو ګران او وخت ضایع کوونکې سفر دي | په سیمه ییزو ادارو د تنخاوو د اداري د صلاحیت د ویشلو له آسانتیا سره دغه مساله له منځه وړي ده |
| 6. ولایتونه داسې وایي چې د خزانې ریاست زیاتې پاڼې د ډیرو کوچنیو دلایلوپر اساس ځو ځو واره ردوي | په سیمه ییزو ادارو د تنخاوو د اداري د صلاحیت د ویشلو له آسانتیا سره دغه مساله له منځه وړي ده |
| 7. د افغانستان بانک د ولایاتو ځانګو ته د پیسو په انتقالولو کې ډیر اوږد مهاله ځنډ کیږي | د افغانستان بانک پر مختللي سیستمونو په رښتیا سره دغه مثاله له منځه وړي ده |

شپږم جدول ځنګه چې په اصلي څیړنه کې پیژندل شوي دی د هغو فعالیتونو خلاصه وړاندې کوي چې د تنخاوو د ځنډیدو اووه دلایل یې په ګوته کړي دي. د تنخاوو په اجرا کې د ځنډ دلیلونه اوس د تخصیص په صادریدو کې د ځنډ په پیښیدلو او د لګښتونو په حساب کې د پوره بیلانس په نشتون باندې خلاصه کیږي؛ د دغو مسالو په هکله مخکښې له مخکښې په وړاندې برخو کې بحث شوي دي.

سره له دغو اصلاحاتو چې تر ننه پورې د تنخاوو په پروسه کې راغلې دې یو مثبت انکشاف جوړوي، خو بیا هم د دې ډاډ له پاره چې دولتي کارکوونکې خپل پوره حق لاسته راوړي، لازمه ده چې لا زیات کار وشي. په کابل کې د تنخاوو د انفرادي تادیې پروګرام Salary Payment ISP) (Individualized ځاي پر ځاي شوي دي او کارکوونکې کولاي شي خپله تنخا نیغ په نیغه د افغانستان بانک څخه لاسته راوړي. سره له دې چې داسې هیله کیږي چې کیداي شي د تنخاوو انفرادي تادیې پروګرام ولایاتو او حتی ولسوالیو ته پراخ کړاي شي، خو بیا حالات داسې حکم کوي چې په استثنا د لږو لویو ولایتو د مرکزونو دغه شان پروګرام لرې خبره. د اړیکو د رسمي کولو او د قانون په قوي کولو سره له لنډ مهاله تر منځ مهاله د پیوستون امانت ساتونکې موډل جوړول

کې چې یو ځل نغدي پیسې له مستوفیت څخه لاسته راشي، هغه کارمندان چې په لرې ځاي کې دي ۴ - ۶ ورځو په اوږدو کې خپله تنخا تر لاسه کوي. په هغو شپږو ولایاتو کې چې مسالې پکښې تر څیړنې لاندې روانې وې یوازې لږ استثناوې موجودې وې. په بامیانو کې، د ولسوالۍ ټولو مامورینو قبوله کړې وه چې هر درې میاشتې وروسته دې تنخا ورکړل شي. یو داچې د لوژستیکې محدودیتونو له پاره او بل د مساواتو داندیښنې له پاره چې ځنې ځانګې خپل

کیداي شي چې په ځاي وي تر څو چې د ناوړه ګټې اخستنې خطر کم شي.

دغه برخه به د ناوخته تشکیل پاتې مسالې او د ښوونکو د تنخاوو د خاصو لانجو په هکله بحث وکړي. او په پاي کې به د کارکوونکو د شمیري د راپور د مسالې په هکله شوې مباحثې وړاندي شي.

### د تشکیل د رسیدلو وختونه

د یو وزارت د تشکیل د تصویب رسمي قانون حکم کوي چې ټول وزارتونه باید د تشکیل پیشنهاد د مالي کال له پیلیدو څخه دري میاشتې مخکښې د تشکیلاتو اداري ته وسپاري. او بیا د تشکیلاتو اداري څخه توقع داسې ده چې د مالي کال له پیلیدو څخه مخکښې یې تصویب کړي. د تشکیل کتنه د بودجې له پروسې سره یو ځاي انسجام کیږي. په تشکیل کې سازماني جوړښت، د پوستونو شمیره، او د وظایفو شرحه درج وي. د تشکیلاتو مشر د بودجې په هکله مباحثو کې برخه اخلي او د هغه د مسؤلیتونو یوه برخه د یو وزارت د تشکیل او د تخصیص د مجموعې د یووالي کتنه ده. تر څیړنې لاندې د ولایاتو د راپور پر بنسټ، تخصیص او تشکیل په رښتیا سره په زیاتو مواردو کې برابر دي، او یوازې د ښوونې او روزنې وزارت مستثنا دي چې لاندې به پرې خبرې وشي. همدا چې تشکیل تصویب شي، د ولایاتو څانګو ته د تشکیل خبرتیا د وزارتونو مسؤلیت دي. بیا د ولایاتو څانګې د تشکیل یوه کاپي مستوفیت ته ورکوي، چې د حساب داري له پروسې څخه مخکښې د تنخاوو لست د تشکیل په مقابل کې وګوري.

خو بیا هم د پورته ذکر شویو نهایي موعدو د اړتیا سره سم زیاتره وزارتونه د تشکیل په صادرولو کې ډیر ځنډ کوي. د ۲۰۰۴ کال د ډیسمبر په میاشت کې د تشکیلاتو د مشر په وینا څنو وزارتونو لکه د سرحداتو، کورنیو چارو، ښوونې او روزنې او د کار او ټولنیزو چارو وزارتونو د تشکیلاتو اداري ته خپل د ۱۳۸۳ کال د تشکیل پیشنهادونه لا سپارلي ندي. ولایاتو داسي وویل چې په زیاتره مواردو کې تشکیل په ډیر ځنډ سره را رسیږي. په څنو ولایاتو کې د ۱۳۸۳ کال تشکیل مستوفیت ته د کال په شپږمه میاشت کې ور ورسید.

د ۱۳۸۳ کال د تشکیل د ځنډ له کبله د ولایاتو د تنخاوو د تادیې په پروسه کې ځنډ را پیښ نشو. د بودجې ګڼه شمیره ۱۳۸۳/۷، چې د مي په لسمه نیټه صادره شوه، ولایاتو ته یې لار ښوونه وکړه چې د ۱۳۸۳ کال د تشکیل تر را رسیدو پوري دي د تنخاوو پروسه د ۱۳۸۲ کال د تشکیل پر اساس اجرا کړي (داسې تمه کیږي چې دغه پیښه به د ۱۳۸۴ کال په پیل کې تکرار شي). دا پروسه چې ولایتي څانګې د تشکیلاتو پر تصویبولو کې ونډه او کنټرول نه لري مناسبه، مساله ده. خو دغې مسالي یو لړ خطرات چې د نویو تشکیلاتو نتیجه به د کارکوونکو د شمیرک لړ والي منځ ته راوړي، خو بیا هم په عملي توګه، په هغو مواردو کې چې پوستونه لړ شوي وو، ښایې چې په خالي پوستونو کې یې بیا کارکوونکې استخدام کړي واي.

سره له دي چې د تشکیل په تصویبولو کې ځنډ یوه ستونځه ده چې باید په ګوته شي. که څه هم د سږ کال اثرات ټیټ وو، خو کله چې پراخه بیاجوړونه پیل شي نو اثر به یې هم خاص وي. په وزارتونو باندي باید تعمیل شي چې خپل تشکیل په وخت سره وسپاري؛ د بودجې له پروسې سره د تشکیل د اړیکو په پام کې نیولو سره، دا د وزارت د ټولي بودجې د سپارلو یوه لازمه برخه ده، او همدا چې د مالي وزارت لاس ته ور ورسیږي نو بیا کیداي شي چې د تخصیص د ۲۰ب پاڼي په شان پیشنهادات د مالي وزارت څخه د تشکیلاتو اداري ته د بیا کتنې له پاره واستوي. نړیواله بانک داسې سپارښتنه کړي ده چې د تشکیلاتو اداره دي د مالي وزارت ته انتقال شي. د تشکیلاتو د اداري انتقال په خپله دا ضمانت نه کوي چې د تشکیل پروسه به چټکه شي، خو دا به د دغه پروسې د بودجې په دایره کې د یو ځاي کولو له کوښښونو سره مرسته وکړي او په ناڅاپه ډول به د وزارتونو موافقه زیاته کړي.

د لا اوږدي مودي په ترڅ کې په عمومي ډول سره د تشکیل د پروسې سمون به خوشاله ونکې وي، خو په اداري چارو کې به دا داسې یو اساسي رول ولوبوي چې د اوس له پاره یې تګ لاره د امکان تر حده پوري په اغیزناکه توګه په کار واچوو. په راتلونکې کې کولاې شو چې د تشکیل یو لړ خورا مفصل اړخونه وزارتونو ته په عمومي ډول سره وسپارو او حتي کیداي شي چې ولایتي څانګې هم په نظر کې ونیول شي، (چې د کارکوونکو شمیره باندي تاثیر و نه کړي).

### د ښوونکو د تنخاوو اداره

تر څیړنې لاندې ولایاتونو کې، د بیا کتنې ټیم د ښوونکو په اړوند مسالو او معلوماتو له خاصو ستونځو سره مخامخ شو. یوه ستونځه د باکفایته استادانو نشتون وو دا په دي معني چې یو ګڼ شمیر نامناسبه ښوونکې د دایمې پوستونو پر ځاي د قرارداد پر اساس مقرر شوي وو.

خصوصاً، په مالي لحاظ د ښوونکو شمیر په زیاتو مواردو کې په تخصیص کې د تنخاوو تامین ډیر زیات کړي دي. دلیل دا وو چې د ښوونکو له پاره په دغو ولایاتو کې ضرورت زیات وو، او څانګو غیر له دي چې ښوونکې یې مقرر کړي واي بله لاره نه درلوده. د ښوونې او روزنې وزارت موقف په دغه اړه روښانه نه دي، خو په ولایاتو کې د

**دوهم چوکاټ: د بامیان د ښوونې او روزنې څانګې د تنخاوو اداره**

د ۱۳۸۳ کال د لومړیو دری میاشتو له پاره، د بامیان د ښوونې او روزنې د څانګې په وینا هغوی د ښوونکو، اداری کارکوونکو او د اجیرانو په شمول ۸۲۳ز۱ کارکوونکو تصویب شوی تشکیل درلود. اود کارکوونکو واقعی شمیره هم همدغه شان وه. د مرکزی دفاترو او ښاری ښوونکو ته د دری میاشتو تنخا په دریمه میاشت کی تادیه شوه ځکه چې هغوی خپل تخصیص په همغه وخت لاسته راوړ اود ولسوالیو کارکوونکو او ښوونکو ته دری میاشتېي تنخا په څلورمه میاشت کې ورکړ شوه.

د دری میاشتنی دوری په دوهمه مرحله کې هغوی راپور ورکړو چې د ښوونې اوروزنې وزارت له خوا یې د ۲ز۲۵۱ کارکوونکو تشکیل لاسته راوړ او ژر ترژره یې د شمیرې د پوره کولو له پاره نوی ښوونکی (په احتمالی اود قرار داد پر بنا) استخدام کړل. خود نوی تشکیل له پاره د تنخا تخصیص زیات نشو. بیا هم د مرکزی دفاترو او ښاری ښوونکو ته په هره میاشت کې تنخا تادیه کیده اود ولسوالیو کارکوونکو او ښوونکو ته د دری میاشتو تنخا په شپږمه میاشت کی تادیه کیدله. د ښوونکو د زیاتې شوی شمیری له پاره لازمه وه چې د دریمې دری میاشتنی دوری له تنخا څخه پور واخستل شي.

د اتو میاشتو په ترځ کې د مرکزی دفاترو او ښاری ښوونکو ته په وخت سره تنخا ورکول کیده. نو دغه څانګی داسی پلان درلود چې M41 د دری میاشتنی تادیې پاڼی د ولسوالیو کارمندانو او ښوونکو تادیې له پاره اجرا کړی، خود تنخاوو پوره تخصیص موجود نه وو، او مستوفی نه پوهیدو چې څه وکړی.

مرکو پر بنسټ، داسي بریښي چې له دې وزارت سره یو څه خواخوږي ده، او د دغه استخدامولو د مخ نیوي له پاره لږ څه کړې دي.

د دغې مسالې بیان توپیر درلود. د مثال په توګه د فاریاب په ښوونې او روزنې څانګو کې د زیاتو ښوونکو شمیره د اداري او اجیر پوسټونو سره متوازن شوې وه نو په عمومي توګه د ښوونې او روزنې له پاره د تنخاوو تخصیص پوره وو، حتی که د ښوونکو د پوسټونو خاصه شمیره تصویب شوی نه وه.

په هرات کې د زیاتو ښوونکو مساله لا د پام وړ وه. د سیمه ییزې څانګې له وینا سره په دغه څانګه کې ۶۲۹ز۱۰ ښوونکې او اداری کارکوونکې په کار بوخت وو. خو د تنخاوو تخصیص یوازې د ۹۷۰ز۷ تشکیل پر اساس صادریدو، او هغوی دغه شرایط داسی مخکښې بیول چې د ولسوالیو ښوونکو ته یې د دری میاشتو په ترځ کې تنخا نه وه ورکړې. په داسې حال کې چې ټولو ښاری ښوونکو او د مرکزی دفاترو کارکوونکو ته تنخا ورکړ شوی وه. براورد چې د څېړنې ټیم ته ورکړ شوی وو هغه داسی وو چې ۹۵ میلیونه افغانیو د تنخاوو یو له حد څخه وتلی تعهد د ماموریت د وخت په اوږدو کې، موجود وو.

په بامیانو کې داسی راپور شوی وو چې د ښوونې او روزنې وزارت په رسمی توګه هغوی ته ۲ز۲۵۰ اشخاصو تشکیل ورکړي وو چی له اوس مهاله ګمارنې سره سمون خوری، خو د تنخاوو تخصیص یوازی د ۸۲۳ز۱ کارکوونو له پاره جوړیږی. ټولو ۲ز۲۵۰ کار کوونکو ته تنخا ورکړ شوی وه، خو هغوی د راتلونکی دری میاشتنی تخصیص څخه دغه تنخاوی تادیه کړی وی، (دوهم چوکاټ وګوری). د مستوفیت کارمندانو له دغې مسالې څخه پوره خبرتیا درلوده او ویل یې چې د دغه مسالې له پاره د حل خاصه لاره نشته مګر داچې د ښوونې او روزنې له وزارت څخه زیات تخصیص واخیستل شي. په بدخشان کې هم حالات همدغه شان وو، چې ښوونکو ته یې د راتلونکی دری میاشتنی تخصیص څخه په پور اخیستلو سره تنخا ورکوله. په داسی حال کې چې په همغه وخت کې بدخشان ۵۰ میلیونه افغانۍ اضافی تخصیص لاسته راوړی وو چې همغو له حد څخه زیاتو ښوونکو ته یې تنخا پوره کوله.

سره له دی چې په ټولو شپږو ولایاتو کې د تخصیص د تیارولو له کچې څخه پورته د زیاتو ښوونکو د استخدامولو مسالې شتون درلودو، یوازی په اندازه کې یې توپیر موجود وو، خو بیا هم په عمومی توګه د ښوونې او روزنې وزارت په دی ونه توانیدو چې خپله بودجه ولګوی، او په حقیقت کی د ښوونې او روزنې بودجه د کال په نیمایې کې د ارزیابې څخه وروسته بنده شوی وه. ښکاره ده چې د ولایاتو په کچه د ښوونې او روزنې په برخه کې د ښه پلان جوړونې او د ولایاتو د تنخاوو او د کارکوونکو د ویشلو د راتلونکی بودجې د سنجولو په اوږدو کې یو رښتنی برآورد ته اړتیا لیدل کیږی. سربیره پر دی د دی له پاره چې ډاډه شو چې د ښوونکو د استخدامولو شمیره د توان وړ ده، د تفتیش او اجرایوی میکانیزمونو بشپړولو ته اړتیا لیدل کیږی.

### د هغو کارمندانو د شمیر راپور چې معاش یې لاس ته راوړې

په سیمه ییزه دفاترو باندی د تنخاوو د اجرا کولو د صلاحیت له ویشلو سره، د مالی وزارت د تنخاوو د مجموعی له پاره د راپور ورکولو د اړتیا یو بنسټ کښیښود چې د ضمیمی په شان د لګښتونو میاشتنی راپور (M23پاڼې) ته وسپارل شي. په دغه راپور کې به د هغو کارکوونکو شمیره چې د څانګې څخه یې تنخا اخستې ده، درج وي. پخوا به دغه معلومات کابل ته د تنخاوو د صلاحیت له پاره د تنخاوو د ډیټا په بڼه، استول کیده. د نورو استفادو سره سره دغه ډیټا د سرشمیرنی یا احصای یې له پاره هم استعمالیږی چې د افغانستان د بیارغونی د

امانت فنډ (ARTF) د تفتیش نماینده ګي یې اداره کوي. دغه ډیټابیز د پلان جوړونې او بودجې د کړنلارو له پاره ارزښتمنده معلومات تیاروي.

په هر حال، په ولایاتو کې د ماموریتونو په اوړدو کې د هغو معلوماتو چې د کارکوونکو په کچه د ولایاتو مامورینو له خوا تیار شوي وو او د هغو ارقامو چې د سرشمیرنی د ډیټابیز له خوا تیار شوي وو، په برابرولو کې زیات شمیر ستونځی رامنځته شوی. که څه هم د دغی مساله د حل له پاره پوره وخت نه وو، ښایې چې د سرشمیرنی په ډیټابیز کې بدلون د کارکوونکو د درجو په بدلون اړه نه در لودله. په زیاتو مواردو کې د کارکوونکو درجي له یوی تر بلی میاشتی پوری بدلون نه مومی.

د ښوونی او روزنی په اړه، ښایې چې نور ښوونکی استخدام شی، خو هغوی له یوی تر بلی میاشتی کوم خاص کم والي نه څرګندوی. په ډیټا کې د دغو بدلونو له پاره ترټولو د منلو وړ ښه تعریف دا دی چې ولایات د نویو پاڼو په ډکولو کې خاصی ستونځی لری او خطاګانی رامنځته کوی، خصوصاً په هغو مواردو کې چې تادیه ځنډیږی، څکه خو افرادو ته د دوو یا زیاتو میاشتو تنخا په یو ځل تادیه کیږی. په ډیر ټینګار سره سپارښتنه کیږی چې دغه پاڼه دی بیا وکتل شي ترڅو د هغو شرایطو سره چې کارکوونکو ته د دوو یا زیاتو میاشتو د تنخا په ورکولو کې په لا واضع توګه معامله وکړی. سربیره پر دی، دا به ښه وی چې د دغی پاڼی د ډکولو له پاره واضع لیکل شوی لارښود تیار شی.

## ۵. له تنخا پرته لګښتونه
### پوره تخصیصونه

د یوی ځانګې په استثنا چې کارکوونکو یې تصدیق کړه چې تخصیص یې کافی دی، د څیړنی لاندی شپږو ولایاتو مامورینو داسی راپور ورکړ چې ولایاتو او ولسوالیو ته د معاش پرته تخصیص اندازه لا اوس هم ډیره لږه ده. سره له دې چې په ځنو ساحو کې پرمختګ شوی وو، خو بیا هم دا یوه ستره مساله وه. په هرات او کندهار کې هغه عایدات چې په ولایت کې را غونډیل او هغو عایداتو ته د لاس رسنی د نشتون له کبله په ولایاتو باندی فشار راوړل کیده تر څو هغه عایدات په خپل تخصیص کی په مصرف ورسوی چې دغې مسالې په ډراماتیک ډول منفی اثر درلود. د معاش پرته لګښتونو نشتون خصوصاً د هغو وزارتونو له پاره ستونځی رامنځته کوی چې د انکشافی بودجی له لاری د دفاترو د بیا رغونی له پاره لږ او یا هیڅ ډول مرستی لاسته نه راوړی.

د معاش پرته لګښتونو شته والي د څیړنی لاندی ولایاتو کې یو څه نا څه توپیر درلود، خو په عمومی ډول هغوی لږ او یا هیڅ تخصیص لاسته نه راوړ. د ولسوالیو مامورینو په څو ځلو د سونګ لرګیو، د ټرانسپورټی وسیلو یا د وسیلو له پاره د تیلو، نشتون بیان کړ، یوازنی شی چې هغوی لاسته راوړی هغه جنس او یا د هغه د پیرودلو له پاره نغدی پیسی وی او بس. په دغو مواردو کې هغوی د تنخاوو د رپورت په شان میاشتنی د لګښتونو رپورت نه سپاری او د هغه پر ځای د هر ځلی پیرودنې څخه وروسته سند تیاروې.

ځنګه چې په اصلی څیړنه کی هم موضوع همدغه شان وه، د تیارې ډیټا له مخی دغه براورد چې ایا د ولایاتو له پاره اوسنی تخصیص د معاش پرته لګښتونو له پاره په ریښتیا سره کافی دی که نه ډیر ګران کار دی. نو ځکه د وزارت په کچه لا مفصلې بیا کتنی ته اړتیا لیدل کیږې. خو بیا هم د معاش پرته لګښتونو د هغک برخې ازمینه چې ولایاتو ته ځانګړی شوی ده د معاشی لګښتونو په مقایسه د هغی برخې چې ولایاتو ته تخصیص ورکړ شوی، په کلکه د ویشلو بی تناسبې ته اشاره کوله. په اصلی څیړنه کې، یوازنې ډیټا چې لاس ته راتلای شوه هغه د ۱۳۸۲ کال د لومړی دری میاشتنې دوری تخصیصونه وو؛ دغو معلوماتو اشاره کوله چې د ولایاتو د ۴۱ فیصده تنخاوو په مقایسه یوازی ۱۴ فیصده معاش پرته لګښتونو تخصیص ، لاسته راوړو.

شپږم شکل په اوسنی حال پورری اړونده مقایسک ښکاروی. دغه چارټ ځرګندوی چې د ولایاتو د برخی معاش پرته لګښتونه زیات شوی دی، خو داسی سلاورکوی چې لا اوس هم د پرمختګ له پاره ځای شته. اووم جدول د ولایاتو د ۱۳۸۳ کال د لمړنیو نو میاشتو د تنخاوو برخه د ولایاتو د معاش پرته لګښتونو د برخی مقایسه ښکاروی.

ځنګه چې مخکښی هم یادونه وشوه، د ولایاتو په کچه د معاش پرته لګښتونو د مناسبی اندازی د ربښتنی براورد له پاره یوازی لاره د هر وزارت څخه مفصله بیا څیړنه ده، چې د دغه پاڼی/کتاب د مقصد څخه بهر ده. د ۱۳۸۳ کال د بودجی د جریان د برابرولو یو ابتکار دا دی چې دولت ته د هغې بودجې د ویشنی تحلیل وړاندی شې چې وروسته به ولایاتو ته د وزارت له خوا وړاندی کیږی. که څه هم په دې هکله پریکړه کول چې ولایتونه څومره لاسته راوړې په وزارتونو پوری اړه لری، خو د شفافیت زیاتیدل ښایې وزارتونه په دی وهڅوی چې د ولایاتو د تخصیص په هکله څپلی پریکړې د حقیقت له مخې ځرګندې کړی. د ۱۳۸۴ کال د بودجی له پاره دی په ولایاتو باندی د وزارت د بودجې په هکله د پریکړی د اثراتو شیوه وآزمییل شی او پر مخ ولاړه شی.

**شپږم شکل: د معمولي بودجي هغه برخه چي د ولايت دپاره غوره شوي ده**




منبع؛ د مالی وزارت،د وزارتونو له پاره، د ۱۰ب پاڼی (۱۳۸۳ کال تخصیص) د افغانستان د مالی وزارت د معلوماتی سیستم ډیټا بیز AFMIS) database) (د دریو دری میاشتنیو تخصیصونو او لګښتونو په هکله، د کال او نیټی په استفاده سره لکه د ۲۰۰۴ کال د ډیسمبر د میاشتی ۱۵مه)

| اووم جدول: د ولایاتو د ۱۳۸۳ کال د دریمې درې میاشتنۍ دورې د معاشي او د غیر معاشي د تخصیص برخه، د وزارت له خوا | | |
|---|---|---|
| وزارت | د ولایتي د برخې د تنخاوو مجموعه | د ولایاتو د برخې د معاش پرته تخصیص |
| د اداري چارو دفتر | ۰.۷٪ | ۰.۱٪ |
| ستره محکمه | ۵۰.۶٪ | ۸.۶٪ |
| د مالي وزارت | ۵۱.۱٪ | ۹.۱٪ |
| د دفاع وزارت | ۳۸.۰٪ | ۱۸.۳٪ |
| د بهرنیو چارو وزارت | ۰.۶٪ | ۲.۳٪ |
| د حج او مذهبي چارو وزارت | ۶۴.۴٪ | ۵۰.۰٪ |
| د سوداګرۍ وزارت | ۳.۲٪ | ۱.۶٪ |
| د کورنیو چارو وزارت | ۴۸.۰٪ | ۴۱.۸٪ |
| د ښوونې او روزنې وزارت | ۸۲.۸٪ | ۵۰.۵٪ |
| د عالي زده کړو وزارت | ۳۹.۶٪ | ۳۵.۴٪ |
| د مهاجرینو د راستنیدل وزارت | ۴۰.۰٪ | ۲۱.۶٪ |
| د پلان وزارت | ۱۷.۲٪ | ۲۳.۷٪ |
| د کان او صنایعو وزارت | ۶۶.۶٪ | ۰،۰٪ |
| د خواړو او سپکو صنایعو وزارت | ۲۹.۷٪ | ۰،۰٪ |
| د مخابراتو وزارت | ۴۷.۰٪ | ۲۶.۷٪ |
| د اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۳۴.۵٪ | ۲۸.۸٪ |
| د عامه روغتیا وزارت | ۵۸.۵٪ | ۱۹.۵٪ |
| د ښځو د چارو وزارت | ۵۴.۰٪ | ۳۵.۷٪ |
| د کرنې وزارت | ۴.۵۸٪ | ۱۳.۰٪ |
| د اوبو وزارت | ۴۷.۶٪ | ۵۰.۴٪ |
| د عامه چارو وزارت | ۳۳.۴٪ | ۲۲.۹٪ |
| د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت | ۶۲.۹٪ | ۴۱.۶٪ |
| د شهدا او معلولینو وزارت | ۴۸.۲٪ | ۷۷.۶٪ |
| د ترانسپورت وزارت | ۳۱.۱٪ | ۳۰.۳٪ |
| د سرحداتو وزارت | ۲۵.۸٪ | ۳۵.۷٪ |
| د کار او ټولنیزه چارو وزارت | ۳۱.۷٪ | ۱۴.۰٪ |
| د ملکي هوانوردۍ وزارت | ۲۰.۳٪ | ۱۳.۴٪ |
| د ښاري ودې وزارت | ۱۲.۹٪ | ۹.۱٪ |
| د عدلي وزارت | ۴۹.۷٪ | ۲۶.۶٪ |
| لوی څارنوالي | ۵۶.۳٪ | ۳۸.۳٪ |
| د ملي المپیک کمیټه | ۱۶.۶٪ | ۲.۸٪ |
| د جیودیسي او کارتوګرافي اداره | ۳۱.۷٪ | ۲۴.۷٪ |
| د مرکزي احصایې اداره | ۷.۲۲٪ | ۱۳.۹٪ |
| د ناورینو د اداري سازمان | ۱۸.۰٪ | ۶.۰٪ |

حکومت باید په ټینګه سره تشویق شي چې کلنۍ تخصیص او لګښتونه په ولایاتو او وزارتونو باندې تاسیس کړي. دغه اړتیا د عامه مالي مسودې په ۲۲ برخه او د لګښتونو د اداري په قانون کې په ښکاره توګه درج شې. د ولایاتو او ولسوالیو په کچه د مصرفولو د ماډلونو د شفافیت لا زیاتوالي ضرورت به رشد وکړي، خصوصاً چې یو ځل پارلمان او محلي شوراګانې جوړې شي.

## پیرودل

د پیرودلو کړنلاره په مقرراتو کې په تفصیل سره وړاندې شوې ده او په تیرو دوو کلو کې یې کوم بدلون ندی موندلی، یوازې د خریدارک د نموني په اړونده محدوده کې سمون راغلي دي. د پیرودلو رواني کړنلارې په اتم جدول کې طرح شوی دې.

دغه کړنلاره د زیاتو کلونو له پاره له ډیر لږ بدلون سره ځای پر ځاي ده؛ او په نتیجه کې د ولایاتو او ولسوالیو کارکوونکې په دغو قوانینو ډیر ښه پوهیږي، او په عمومي توګه همدغه کړنلاره رعایت کوي. سره له دې چې دغه قوانین پرلپسې [2]د ارادک مطیع ګرځي[2]. د مثال په توګه، دا یوه عامه شیوه ده چې له یو سوداګر څخه درې نرخه په بیلا بیلو نومونو اخستل کیږي.

سره له دې چې د پیرودلو زیاته برخه په ولایاتو کې تر سره کیږي، خو ولسوالي هم څنې وړې خریدارک کوي. داسې نه ده چې ولسوالي عملاً خپل تخصیص لاسته راوړي، خو که خریداری ته اړتیا ولرې، او ولایت داسې احساس کوي چې ښه ده چې دغه خرید په محل کې وشې، نو ولسوالیو ته د خریداری له پاره فنډ ورکول کیږي. او په دغو مواردو کې، ولسوالي د خریداری کړنلارې څخه استفاده کوي او د خریداری مکمل سند مستوفیت ته استوي.

| اتم جدول: د معاش پرته تادیې د اجرا بهیر | | |
|---|---|---|
| پړاوونه | ولایتی څانګه | د ولسوالی دفتر |
| د تخصیص جوړول | د ولایاتو څانګې خپل د دری میاشتنی دوري تخصیص (معمولاً د دوری له پیل څخه وروسته) لاسته راوړی | ولسوالي خپل دری میاشتنی تخصیص (معمولاً د دوری له پیل څخه وروسته) لاسته راوړي. (یادونه وګوری.) |
| د خریداری اجازه ورکول | د لګښتونو څانګړی حساب ته پوره مثبت بیلانس ور انتقالیږي، او د افغانستان بانک په ولایتي څانګه کې نغدی پیسی لاسته رازی. | د ولسوالی د دری میاشتنی تخصیص له پاره پیسې د ولسوالی مالی دفتر ته ور استول کیږی او خزانه دار یې په سیف کی ساتی. (یادونه وګوری.) |
| | ولایتی څانګه پروپوزل/پیشنهاد تیاروی او والی ته یې ور سپاري. | د ولسوالی دفتر پیشنهاد تیاروی او ولسوال ته یې ور سپارې. |
| | د پرچون خریداري په هکله، پنځه تنه د خریداری له پاره ګومارل کیږی، یو تن د څانګې د مشر له خوا، یو تن د مستوفی له خوا، او دری تنه د والی له خوا.<br>۱. که د جنس ارزښت او یا د یو سرویس قیمت تر ۱۰،۰۰۰ افغانیو وې نو له دغه پنځه کسیزه ګروپ څخه یو تن هم کولای شی چې خریداری وکړی.<br>۲. که د جنس او یا د خدمت قیمت له ۱۰،۰۰۰ – ۵۰،۰۰۰افغانیو وې نو د ګروپ دوه تنه خرید سرته رسولای شي.<br>۳. که قیمت له ۵۰،۰۰۰ –۲۰۰،۰۰۰ افغانیو وی نو د ګروپ دری تنه باید خریداری وکړی.<br>۴. که قیمت له۲۰۰،۰۰۰ –۱،۰۰۰،۰۰۰ افغانیو وې د ګروپ ټول پنځه غړې باید خریداري کې موجود وې. د عمده خریداری په وخت کې د بیې ټاکنی د ښکاره پروسی/بولی (داو ) د څارنی له پاره د ولایت والی یو هیات کوماری. | که چیری ولسوالي خریداری وکړی نو هغوی هم د ولایاتو په شان همدغه کړنلاره تعقیبوی. |
| | د والی مقام د پیشنهاد شوی خریداری صلاحیت صادروی. | ولسوال پیشنهاد شوې خریداری تصویبوی او د ولسوالی له اداری څخه په خریداری کې د ګډون له پاره یو نماینده استوی. |
| | د پیشنهاد پاڼه/پروپوزل مستوفیت ته هم استول کیږی، چې د څارنی/تفتیش څانګه د خریداری پیشنهاد وګوری. مستوفی د پروپوزل صلاحیت صادروې. | پروپوزل د مالی دفتر ته هم استول کیږی، چې د حساب تصفیی څانګه د خریداری پروپوزل وګوری. د مالی دفتر د پروپوزل د خریداری صلاحیت صادروی او یو نماینده ټاکی چې په خریداری کې ګډون وکړی. |

| | | |
|---|---|---|
| د پیرودنې اجرا | عموماً د پرچون خریداری څخه مخکښی مستوفی څانگی ته چک استوي ترڅو خریداری په نغدو پیسو باندی وشی. کله ناکله مخکښی له دی چې پیسی لاسته راشي، خریداری سرته رسیږی. | عموماً خزانه دار مخکښی له مخکښی څانگې ته پیسی ورکوی ترڅو خریداری په نغدو پیسو وشی. |
| | ولایت؛ په دغو شرایطو کې، ښایې چې مستوفی د خریداری له پاره چک صادر کړی، خو خرڅوونکی مخکښی له دی چې چک اجرا کړی باید انتظار وباسی ترڅو نغدی پیسی بانک ته را ورسیږی. بله لاره دا ده چې ښایې له یو سودا گر سره د خریداری قرارداد امضا شی خو ترڅو چې نغدی پیسی نوی را رسیدلی هیڅ ډول تادیه نشی کیدلای. | |
| | د پرچون خریداری په حالت کې، هغه پنځه کسیزه هیات بازار ته ځی او د خرید له پاره دری نرخ نامی اخلی. د حدودو له پاره د جدول پورتنی برخه وگوری. | د پرچون خریداری په حالت کې، هیات بازار ته ځی او د خریداری له پاره دری نرخ نامی اخلی. که چیری خریداری د ۱۰،۰۰۰ څخه ټیټه وې نو یوازی یوه نرخ نامه په کار ده. |
| | خریداری د هغه نرخ نامی پر بنسټ کیږی چې تر ټولو ارزانه وې | خریداری د هغه نرخ نامی پر بنسټ کیږی چې تر ټولو ارزانه وې |
| | کله نا کله خریداری د یو قرارداد په بڼه کیږی داسی چې اجناس او یا خدمات د یو ټاکلی وخت په اوږدو کې اکمالیږی. ښایې چې دغه قراردادونه د ولایت اداری شورا له خوا وکتل شی او تصویب شی. | |
| | د عمده خریداری له پاره چې ۱،۰۰۰،۰۰۰ افغانیو څخه پورته وې، د والی له خوا گومارل شوي هیات د بیې ټاکلو ښکاره پروسه/داوطلبی (بولی) سرته رسوې د بولی یا بیه ټاکنی د مراسمو یوه برخه دا ده چې ټول برخه اخیستونکی باید د خریداری د ټولی بیې د تخمین دری فیصده په مؤقته ډول سره امانت وسپاری. سوبمن په راډیو کې اعلانیږې او هرڅوک کولای شی چې لا ټیټه بولی انتخاب کړې. له دوهم وار څخه وروسته د بولی هیات له سوبمن سره قرارداد امضاکوی، او د صلاحیت لرونکی مقام له خوا پای ته رسیږی. (څنگه چې د پیرودنی په قانون کی تعریف شوې ده). | |
| د حسابونو څن کول | د رسید پاڼی مستوفیت ته ورل کیږې او حسابونه سرته رسیږی (که چیری د خریداری بیه له هغو پیسو څخه چې مخکښی د امانت په بڼه سپارل شوی دی ټیټه وه، نو باقی یې بیرته سپارل کیږی، او که د خریداری بیه زیاته وه نو مجرایی ورکول کیږی). | د رسید پاڼی د مالی دفتر ته ورل کیږی، او حسابونه تصفیه کیږی (که چیری د خریداری بیه له هغو پیسو څخه چې مخکښی د امانت په بڼه سپارل شوی دی ټیټه وه، نو باقی یې بیرته سپارل کیږی، او که د خریداری بیه زیاته وه نو مجرایی ورکول کیږی). |

## ۶. د حسابونو تصفیه کولو شیوه

د حسابونو د تصفیې یو لړ فعالیتونه په ولایاتو کې روان دي. لمړي، په مستوفیت کې د حساب له تصفیې څخه مخکښې یوه دنده دا ده چې ټول د تنخاوو او د تنخاوو څخه پرته تادیې له اجراکولو څخه مخکښې څارل. د حساب د تصفیې دغه واحد د مسودې له واحد څخه بیل شوي دي کوم چې تشکیل او تخصیص اسنادونه ساتې، له تشکیل سره د م۴۱ پاڼه (د تنخاوو مفصل لست چې د مربوطه څانګو له خوا تیاریږي) او د م۱۶ پاڼه (د تنخاوو د لست لنډیز فیصله کوي. د حساب د تصفیې/څارنې په مرحله کې د ټولو پاڼو سم والی کتل کیږي چې آیا د تخصیص د مشخص باب له مخې دغه لګښت مجاز دی، او د تنخاوو په هکله دا چې آیا د څانګې په تشکیل کې موجود دی که نه.

برسیره پر دې، د یو لړ وزارتونو په شمول د مالي وزارت، د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت او د ښوونې او روزنې وزارت په تیر کال کې په خپلو ولایتي څانګو کې د حساب تصفیه، بشپړه کړه. په احتمالي توګه نورو وزارتونو هم دغه کار کړي دي.
د حساب د تصفیې عمومي اداری ولایاتو ته د حساب د تصفیې ټیمونه استولې دي. دغه ټیمونه د Foundation) Consulting PKF (Pollock-Karsner په مرسته سره تربیه شوې دي. د هغوی د حساب د تصفیه کولو/څارنې طریقه ساده ده، هغوی د آزمایني فهرست پاڼه لرې چې د کارنامو او نورو د منښت وړ ټکو په خاصو معیارونو باندې تمرکز کوي. په هغه وخت کې به دغه ټیم د ۱۱ - ۱۲ څانګو کرنلاری وڅارې. د حساب د تصفیې نتیجه وروسته بیا بیرته څانګو ته وراستول کیږی او په وروستنیو کتنو کې بیا ګورې چې آیا هغه نقصونه لیرې شوی که نه.

خو بیا هم داسې کوم روښانه ثبوت نه وو چې د حساب د تصفیې دغه پروسې په پرمختللې شیوو منتج کیږې! د مثال په ټوګه د بامیانو د ښاروالۍ په اړوند، چیرې چې د پوهیدلو با وجود به نامناسبه تادیې کیدلې. (په ۲۹مه پاڼه کې پنځم چوکاټ وګورک)، د حساب د تصفیې د عمومي اداری له خوا کومه څارنه چې شپږ میاشتې مخکښې تر سره شوې وه نتایج یې لاتر اوسه استول شوی نه وو.

سربیره پر دې، دا ډیر بې ارزښته کار دی چې د فاریاب والی د ولایت څارنوال ته دا صلاحیت ورکړی دی چې په ولایت کې د ټولو څانګو څارنه وکړی، که څه هم دغه وظیفه رسماً د څارنوال په مسؤلیت کې نه ده.

## ۷. د بودجک او انسجام میکانیزم

د بودجې او تدبیر نیولو په فعالیتونو کې د سیمه ییزې اداري ګډون ډېر کم دی. د متوسطي بودجې په اړوند، له ځانګو څخه غوښتنه شوې ده چې د تشکیل پیشنهاد وکړي، خو هغوی وایي چې دغو معلوماتو ته توجو نه کیږي او د هغوی سپارښتنې نه منل کیږي، او هغوی هیڅ ځواب یا تشریح لاسته نه راوړي. سره له دې، د معارف او روغتیا ځانګو خبر ورکړ چې د وزارتونو له غوښتنې سره سم هغوی د ۱۳۸۳ کال له پاره د بودجې غوښتنه وختي تیاره کړې او سپارلې ده. دغه یو ډول پرمختګ دی، او هیله ده چې ټول وزارتونه به د ۱۳۸۴ کال له پاره د بودجې د تیارولو د غوښتنې پروسه همدغه شان وکړي؛ د بودجې د تیارې لاربنود وزارتونو ته دغه شان لارښوونې کړې دي خو د تعمیل کولو داسې کوم میکانیزم نشته. د انکشافي بودجې پروسه هم د ولایاتو مقاماتو ته ګډون نه ورکوي، (نه یوازې د بودجې په تیارې کې خو د بودجې په اجرا کې هم)، او دا د ډونر د اداري او انسجام لاندې پاتې کیږي. چې د افغانستان د ثبات د برنامې د ولایاتو د ثبات فنډ نیت وکړو چې د والي مقام ته یو اندازه انکشافي فنډ ورکړي تر څو په سیمه ییزه اولویتونو باندې یې ولګوي، خو حتی دلته هم د پروژګ وروستنی تصویب له کابینې سره پروت دی. د دې هاخوا پروګرامونه پیل شوی دي چې د ولایتي اداری سره د کومې هماهنګۍ د ضرورت څخه پرته، متوازنه اداري جوړښت څخه استفاده کوي؛ په دغو پروګرامونو کې تر ټولو نومیالی د ملي پیوستون پروګرام دی (NSP) دریم چوکاټ وګورئ).

د دغو راز راز بودجوی او پروګرامونو د جریان او د دغو تر منځ د رابطې د موندنو استدلال سربیره، په سیمه ییزه کچه یو لړ برابروونکی میکانیزمونه موجود دي. د ولایت د والي له خوا په ټولو ولایاتو کې د

**دریم چوکاټ: په سیه ییزه انکشاف باندې د دوه ملي اولویتونو تمرکز**

**د افغانستان د ثبات پروګرام**

په عمومي توګه د ولایاتو د ثبات فنډ چې د افغانستان د ثبات د برنامې لومړي ستون دی په ټولو هغو ولایاتو کې چې کتنه تری شوی دغه پروګرام پکښې روان دی، هرولایت د لویو انکشافي پروژو له پاره چې له ټاکلي معیار سره سم وی یو میلیون امریکایي ډالر تر لاسه کوی، سره له دی چې له ۲۵۰.۰۰۰ ډالرو څخه لویه پروژه نشته. اصلي مقصد د ولایاتو والیانو ته د سیمه ییزه اولویتونو په نظر کې نیولو له پاره د فنډ ورکولو واک وو، چې د داسې مشورتي پروسې له لارې وپېژندل شي چې ټول سیمه ییزه رهبران پکښې ګډون ولري. که څه هم دغې کړنلارې په ولایاتو کې څه نا څه توپیر درلود، په عمومي ډول سره پکې یوه د هم آهنګۍ کمیته چې پروژې یې ځارلې او یو مشاور چې د کورنیو چارو وزارت له خوا د پوره وخت له پاره په پروګرام کې استخدام شوی وو. د بین المللي او غیردولتي موسسو د هماهنګک کمیتې څخه او له کلیدي وزارتونو نه چې په برنامه کې یې ګډون درلود، ځاي پر ځاي وو. د ولایتي ماموریت په وخت کې، ولایاتو د فنډ د ورکولو له پاره پروژې په ګوته کړې وې، خو هغوی سترګې په لاره وو چې کومې پروژې به د مرکز کابل له خوا تصویب شي، او دا ښکاره وه چې ورستني پریکړه به کابینه کوي.

دوهم ستون یې د ولسوالی د زیربنا د انکشاف برنامه ده (DID)، چې د ولسوالی د دولتي دفتر د تعمیر د معماری له پاره فنډ او حمایت برابروی. د څیړنې د ماموریت په وخت کې په ټول هیواد کې د ۷۸ ولسوالیو د حکومتي دفترونو جوړول یا پلان شوي وو یا تر پلان لاندې وو. او د دریم ستون لاندې، د ظرفیت لوړوالي او یو لړ مقدماتي فعالیت پیل شوی دی، او کارکوونکو ته په ځانګو کې او ولسوالیو کې ځنې پانې ویشل شوي دي. د هغو د معلوماتو پر بنسټ به تعلیمي پروګرامونو ته انکشاف ورکړل شي. او څلورم ستون چې له (PRR) سره تړون لري لا اوس نده پیل شوي.

**د ملي پیوستون پروګرام (NSP)**

د ملي پیوستون پروګرام د سیمو په کچه د کوچنیو زیربنایي پروژو له پاره فنډ تیاروي. د فنډ د لاسته راوړلو له پاره هره سیمه باید سیمه ییزه انکشافي کمیته جوړه کړي (Community Development Committee CDC)، او دغه کمیته بیا کولای شي چې د فنډ پیشنهاد وکړي او بشپړونه یې هم اداره کړي. د ملي پیوستون پروګرام په ټولو لیدل شویو ولایاتو کې موجود وو. د دغه پروګرام اغیزه خصوصاً د پروګرام په هغه اړخ چې خلک پکښې شامل وو ډیره مثبته وه. خو بیا د بشپړونې په هکله اندیښنې هم موجودې وې.

دغه پروګرام د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت د ولایتي دفتر له لاری اداره کیږي، او هغه غیر دولتي موسسي چې په دغه خاصه ساحه کې د کار تجربه لري د همکار په شان ګومارل شوي او د سیمه ییزه د انکشاف له کمیټې سره چې، پروژې په ګوته کوی او بشپړونه یې اداره کوی، مرسته کوی. وروسته له دې چې د سیمه ییزه انکشاف کمیټي پروژې پیشنهاد کړې بیا اداره کوونکې غیر حکومتي موسسه هغه پیشنهادونه ګوری او وروسته له هغې د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت ته وراستول کیږي. وروسته له دی بیا کابل ته د وروستنی تصویب له پاره استول کیږي، چې په عادي ډول دوه میاشتې وخت نیسي. (په بدخشان کې د کلیو د پراختیا او بیا رغونې دفتر د پروپوزل/پیشنهاد تصویب د کال تر نهمې میاشتې هم لاسته نه وو راوړی چې دا له حده څخه ډیر ناوخته ده.) د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت څخه پرته هیڅ کوم ولایتي او یا د ولسوالی ځانګه په دغه پروګرام کې ګډون نه لري. خو بیا هم که داسې وی چې کومه پروژه په نورو دولتي ځانګو پورې تړلې وې نو باید چې سره مشوره وکړي. خو د اکثره پروژو لکه د څا، لښتیو، تشنابونو او داسې نورو پروژو د جریان ځارنه کوچنی کار دی او محلي سیمه یې بې له کوم اضافي مالي حمایې څخه سرته رسولی شي، نو ځکه کومې مشورې ته اړتیا نه لیدل کیږي. د سیمې د انکشاف هره هغه کمیته چې تصویب شوې پروژې لري، د افغانستان بانک کې یو حساب ورته جوړیږي او د همدغې کمیټې نماینده کولای شي چې پیسې را وباسي.

**څلورم چوکاټ: د بامیانو د سوکاله راتلونکې جرګه**

په بامیان کې د سوکاله راتلونکې په نام یو د خلکو مشورتي لوی مجلس دی چې په کال کې یو ځل جوړیږي. د ولایت او ولسوالي لوړ رتبه کار کوونکې اوله کلیو څخه د خلکو مشران پکښې ګډون کوي. هغوی د ولایت له پاره د اولویتونو په هکله سره خبري کوي اوله مجلس څخه وروسته یو نماینده د هغوی نتایج کابل ته کابل ته انتقالوی اوله ولس مشر حامد کرزی سره کتنه کوي. یوه مساله چې ښکاره نده هغه دا ده چې راز راز پلان جوړوونکي پریکړې لکه د افغانستا د ثبات فند له دغه ګروپ سره څنګه تناسب درلودي شی، د مثال په ډول د دغی خیړنی د ماموریت په وخت کې چې د ولایت په کچه د افغانستان د ثبات فند پروژی لا وختی قبولی شوی وی چې لا د خلکو مشورتی مجلس مهال یو ځو اونی وروسته وو.

اداري چارو په هکله شورا ګانی جوړیږي چې د ټولو ځانګو مشران پکښې ګډون کوي. د دی شاته ځنی ولایات د انسجام سکتوری کمیتی لري چې له اصلی انجوګانو، بین المللی موسسو، د اصلی ځانګو له مشرانو او د والي له ګډون څخه جوړې شوی دي. او دغه ګروپ له راز راز پلان جوړونی او انسجام مسالو سره کار لری؛ په ځنو واردو کې د افغانستان د ثبات فند د پروژو په هکله خبري شوی وي. په همدی شان د ولایاتو د بیا رغونی ګروپونه چې په کار بوخت دی او یا پیشنهاد د شوی دی، د شورا راز راز جوړښتونه او خاص اولویتونه هم شته. څلورم چوکاټ د بامیان ولایت څخه همدغه شان یو مثال وړاندی کوي. خو د انسجام دغه میکانیزمونه اکثره خپله اجنډا لری او په عمومی توګه د سیمه ییزه اداری د رول په قوی کولو فوکس نه کوي.

سره له دی چې د افغانستان د ثبات فند او د انسجام د راز راز نورو میکانیزمونو مقصد دا دی چې د ولایاتو والیانو ته او نورو محلی رهبرانو ته په ولایتی اولویتونو کې یو څه د پریکړې واک ورکړي، خو دغه میکانیزمونه د انکشافی بودجی د پریکړې له اصلی پروسی څخه بهر دي. د ده پر ځاي چې والیانو ته په یو ه جلا بودجه کې د پریکړې واک ورکړ شی، په اوږد مهاله موده کې به دا ښه وی چې والیان په ټوله انکشافی بودجه باندی مصروفه وسائل شی، څکه چې دا د هغوی په ولایت پوری اړه لری. او د پارلمان او محلی شوراګانو له تاسیسیدلو سره به د دغه ستر مصروفیت فشار زیات شی.
څنګه چې اوس ښکاری، د افغانستان د ثبات فند له لاری د سیمه ییزی اداری له پاره د فنډ د زیاتولو او د

د دغو راز راز جلا میکانیزمونو د منفی اثراتو په هکله لا تر اوسه ژور فکر ندي شوي، څنګه چې په سیمه ییزه اداره کې د اصلاحاتو د راوستلو کوښښونه د یو نورماله کړنلاری بیا تاسیسولو باندی چې محراق یې معمولی بودجه ده، فوکس کړي دي. په مخکښی تللو سره بیا هم په مرکز کې د معمولی او انکشافی بودجو د یو ځای کولو کوښښونه به د ولایاتو په کچه د موازي فعالیتونو غوښتنه وکړي د سیمه ییزه اداری او خصوصاً د مستوفیت د چمتو کولو له پاره، د پرګرامونو فند له پاره چې د معمولې بود جی څخه بهر راځی د ولایاتو له لاری جوړ کړی. دا د افغانستان د ثبات فند د پروژی اصلی مقصد وو؛ خو د ولایاتو د څیړنی د ماموریت په دوران کې د دغه فعالیت د جریان کومی نښی نه ښکاریدلی. او اکثره مستوفیانو د افغانستان د ثبات فند د برنامی د تفصیلاتو په هکله ډیر لږ معلومات درلود.

ملي پیوستون او د نشه یي توکو پرضد د نویو کوښښونو یو لاس کولو ته زیاته توجه شوې ده،که د مستوفیت په اوسنی مالی میکانیزم کې د دغو پروسو د یو ځاي کولو له پاره فعالیت ونه شی نو په محلی کچه به د سیمه ییزی اداری د ملی حکومت له شتون سره تناسب کم شی.

د مالی وزارت فعلاً د مستوفیت د دفاترو جوړښت، نقش او مسؤلیتونه له سره ګوري. د توجو وړ یوه ابداع د مستوفیت په چوکاټ کې د بودجې د واحد تاسیسول دي چې د بودجې د غوښتنې په جوړولو کې به له ولایاتو حمایت وکړی او په لا عمومی ډول د ولایاتو د پلان جوړونی په انسجام کې مرسته وکړی. دغه سمون د دغو جلا پروګرامونو له پاره دا شرایط منځته کوی چې په ځانګړی حساب کې سره یو ځاي شی، او باید په فعاله توګه تری ملاتړ وشی.

**څلورم چوکاټ: د بامیانو د سوکاله راتلونکې جرګه**

په بامیان کې د سوکاله راتلونکې په نام یو د خلکو مشورتي لوی مجلس دی چې په کال کې یو ځل جوړیږي. د ولایت او ولسوالي لوړ رتبه کار کوونکې اوله کلیو څخه د خلکو مشران پکښې ګډون کوي. هغوی د ولایت له پاره د اولویتونو په هکله سره خبري کوي اوله مجلس څخه وروسته یو نماینده د هغوی نتایج کابل ته کابل ته انتقالوی اوله ولس مشر حامد کرزی سره کتنه کوي. یوه مساله چې ښکاره نده هغه دا ده چې راز راز پلان جوړوونکي پریکړې لکه د افغانستا د ثبات فند له دغه ګروپ سره څنګه تناسب درلودي شی، د مثال په ډول د دغی خیړنی د ماموریت په وخت کې چې د ولایت په کچه د افغانستان د ثبات فند پروژی لا وختی قبولی شوی وی چې لا د خلکو مشورتی مجلس مهال یو ځو اونی وروسته وو.

## ۸. د کارکوونکو اداره

د سیمه ییزه اداری اصلی څېړنی د کارکوونکو د اداری په ساحه کې یو شمیر مسالی معرفی کړي. په خاصه توګه د انتخابولو او استخدامولو پروسه سخته او د تمرکز وړ ښودل شوی وه، د دغو مسالو له پاره ځنی حل لاری د انکشاف لاندی دی، لکه د افغانستان د ثبات فند د ظرفیتونو د لوړوالی برخه، خو په عمومی توګه په دغه ساحه کې لږ بدلون راغلی دی. د کارکوونکو داستخدامولو قانون بدلون ندی موندلی؛ د ټولو دایمی شپږم بست او له هغه پورته کارمندانو، او د دویمی درجی او له هغه پورته اجیرانو د استخدام پاڼه باید اوس هم کابل ته واستول شی، او نور ټول یې باید د والی له خوا تصویب شی. له کابل څخه د تصویب د رارسیدو په څند کې خاص توپیر موجود دی، خو ښایې چې اوسطی مرحله یې له یوی تر دوو میاشتو وی، او ځنی یې له پنځو تر شپږو میاشتو ځنډیږی. خو بیا هم د دغی مسالی په هکله د پخوا پشان ډیر شکایتونه نه وو، زیاتو خلکو په مرکه کې داسی و ویل، (موږ پوهیږو چې دغه پروسه وخت ته ضرورت لری). سره له دی، د اصلی څېړنی د دغی سپارښتنی څخه ملاتړ کیده چې د استخدامولو د تصویب له پاره دی دوه میاشتی وخت ورکړل شی.

په اداري هیات کې چې کوم اصلاحات په مرکز کې راغلی، لکه، له وړ والی سره سم استخدامول چې د اداري سمون او مدني ټولني ناپايیلي کمیسیون او د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو تجدید (PRR) له خوا اداره کیږی، اوس ولایاتو ته خوځیږی، خو خورا ورو ورو.

### وړ والی سره سم استخدامول

په اکثره کتل شویو ولایاتو کې، کارمندانو څه نا څه آګاهی درلوده چې لوړ رتبه پوسټونو (درجه دوه او له هغه څخه پورته) له پاره ګومارل باید له وړ والی سره سم وشی، او دغه موضوع د اداری سمون او مدنی ټولنی نا پایبلي کمیسیون اداره کوی؛ خو په تیر نژدی وخت کې په دغه کچه کومه ګومارنه شوی نه وه. د اداری سمون او مدنی ټولنی نا پایبلی کمیسیون نماینده له ځنو ولایاتو څخه کتنه کړی او د استخدامولو نوی کړنلاره یې تشریح کړی وه. (ګزارش وایې چې د اداری سمون او مدنی ټولنی نا پایبلي کمیسیون په ځنو ولایاتو کې دفتر تاسیس کړی دی، خو خورا نژدی وخت کې، او ظاهراً د والی د فتر د تشکیل د کتنی له پاره، نه د دی له پاره چې له استخدامولو سره کار ولری.

د څېړنی ټیم د ځانګو ځنی مشرانو سره چې نوی استخدام شوی وو او دغه پروسه یې لیدلی وه، مرکه وکړه. د مثال په توګه په بامیانو کې، د زده کړی د ریاست ریس دری میاشتی د مخه استخدام شوی وو. لمړی د هغه د استخدام پیشنهاد د والی له خوا شوی وو، بیا یې دغه پیشنهاد/پروپوزل د معارف وزارت ته او له هغه وروسته د اداری سمون او مدنی ټولنی نا پایبلی کمیسیون ته استول شوی وو. دغه کمیسیون د نوموړی سابقه او لیاقت چک کړ. او په پای کې د هغه استخدام د ولس مشر حامد کرزی له خوا تصویب شو. په فاریاب کې د پښتون کوټ ولسوالی ولسوال و ویل چې هغه د اداری سمون او مدنی ټولنی نا پایبلی کمیسیون له لاری استخدام شو، او له دغه کمیسیون سره یې دوه مرکې درلودی، سره له یوه مرکه چې د ولس مشر د مرستیال ارسلا له معاون سره وکړه.

خو عمومی تصویر داسی وو چې ګمارنی د واسطی په اساس، لکه د قومی او سیمه ییزه ارتباطاتونو له مخی، کیدلی.

### د اولویتونو اصلاح او د تشکیلاتو تجدید (PRR)

د اولویتونو د سمون او د تشکیلاتو د تجدید په هکله د آګاهی کچې توپیر درلودو؛ ځنو لوړ رتبه مامورینو د دغه پروګرام په هکله هیڅ کومه پوهه نه درلوده. تر څېړنی لاندی هغو شپږو ولایاتو کې چې د اولویتونو د سمون او د تشکیلاتو تجدید پروګرام په کار آچول شوی وو یوازی دوه شرایطه موجود وو:

- په کندهار کې د عامه فوایدو ریاست په نژدی تیر وخت کې د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو تجدید پروګرام بشپړ کړی وو هغوی د کارکوونکو له پاره د دایمی کارمندانو د تنخاوو د کچې په هکله د تفصیل د ورکولو له پاره یو میز تیار کړ. د دغه ځانګی له مامورینو څخه یو امتحان واخستل شو، هغوی ویل چې د ناکام شویو مامورینو نومره د کامیابی تر حده پوری عیاره شوی وه. په پای کې ۱۴ کار کوونکو ته دا انعام ورکړ شو چې په نوی کچه به تنخا لاسته راوړی.

- په بامیانو کې د کلیو د پراختیا او بیا رغونو د وزارت ریاست د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو تجدید د پروګرام د بشپړولو په پروسه کی بوخت وو. د کلیو د پراختیا او بیا رغونی وزارت څخه یو هیات راغلی وو چې دغه پروګرام سرته ورسوی. هغوی ټول موجوده بستونه د محلی رادیو په څپه اعلان کړل، خو یو کس هم مراجعه و نه کړه. له هغه وروسته له شتو مامورینو څخه یو شفاهی امتحان واخستل شو، او راز راز سوالونه تری وشول. د څېړنی د ماموریت په وخت کې، هغوی لا نتایج لاسته نه وو راوړی، خو هغوی ته یې د هر بست د نوی تنخا اندازه څرګنده کړی وه.

په دغو دواړو شرایطو کې د دغه ریاست د تشکیل تجدید پلان شوی نه وو. که څه هم د قضاوت له پاره وخته ده، خو د کندهار له ولایت څخه لاسته راغلی تجربه داسی ښکاروی چې، نورو کارکوونکو

خپګان درلود او ویل چې د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو د تجدید د پروګرام د تنخاوو اندازه منصفانه نه ده. او د داسې یو تصویر له ورکولو سره چې دغه پروګرام د شتو مامورینو د تنخاوو د زیاتولو یوه لاره ده او د تشکیل له تجدید او ور والی آزموینه له تطبیق سره کوم کار نه لری، دغه برداشت د تعجب وړ نه دی. او دغه برداشت چې د کلیو د پراختیا او بیا رغونې ریاست له غوره توب څخه سودمن دی؛ ښایي چې د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو د تجدید د پروګرام د تنخاوو انعام دغه برداشت مینځ ته راوړی وی.

د اداری سمون او مدنی تولنی نا پایېلی کمیسیون ولایاتو ته د نړدی کیدلو په هکله بیا سوچ کړی دی، او د والی د دفتر د تشکیل د تجدیدولو له پاره کوښښونه د داسې یو موډل د منځ ته راوړلو له لاری پیل شوی دی چې په ولایاتو کی به په خورا منسجم ډول تطبیق شی. او یقیناً چې دغه یو ډول انکشاف دی. په ولایاتو کې د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو تجدید د تطبیقولو پروګرام باید د ولایاتو په کچه د موجودو ریاستونو نژدی اړیکی په پام کې ونیسی. د اولویتونو د اصلاح او د تشکیل د تجدید پروګرام که د دی له پاره استعمال شی چې ولایتی اداره یو لاس او منسجم ماهیت ته واړوی، نو دغه پروګرام به یوه مثبته وسیله وی. خو که په اوسنی تشکیل باندی چې د اوسنی صلاحیت د عمودی کرښو یوه تریجې بنه ده، ښایي چې د اولویتونو د سمون او د تشکیل د تجدید پروګرام ډیرزیان لرونکي وی. فعالیت ته د نږدی کیدلو د ارزښت وړ قضاوت دادی چې په ولایاتو کې په یو منسجم پیل سره د دغه پروګرام اول هدف د والی دفتر (دغه کار لا وختی پیل شوی دی) او مستوفیت وی. دغه دوه ریاستونه د ولایاتو په کچه د رهبریت

ولایتی ښاروالي د لاس لاندی (لکه هرات او کندهار) کار کوی او په هغو ولایاتو کې چې د ولسوالک ښاروالي په خپل اختیار کار کوی هم هیڅ بدلون راغلی نه وو.

د کورنیو چارو وزارت په وینا، د اوسنی قانون په اساس ټولي ښاروالي نا پایېلی اداری دی، او د خپلی بودجې د اجرا او د عایداتو د غونډولو او د لګښتونو مسؤلیت په غاړه لری. د وزارت مامورینو د هرات او کندهار له شرایطو څخه آګاهی نه درلوده، چې د هغوی ولایتی ښاروالي د ولسوالیو له ښاروالي څخه د عایداتو په راغونډولو خپله بودجه تصویبوی او تنخاوی اجرا کوی. هغوی د څیړنی ټیم ته وویل چې هغوی به بی له ځنده دغو ولایاتو ته سرپرست واستوی تر څو هغوی قانون ته غاړه کیږدی، خو معلومه نده چې اثرات به یې څه شان وی.

ځنی سوالونه موجود وو چې آیا د اساسی قانون دغه بند (هر ډول مالیه، محصول، او عایدات چې راغونډیږی باید دولتی حساب ته وسپارل شی) د ښاروالیو مالی استقلال کې بدلون راوړی که نه. د کورنیو چارو نظر داسې وو چې ښاروالي به خپل عایداتو ته لاس رسنه ولری، او هر نوی قانون به ښاروالیو ته د ښاروالک د عایداتو د ورسپارنی ملاتړ وکړی. خو بیا هم د مالی او لګښتونو د اداری عامه قانون د دغې مسالې په وړاندی غلی ښکاری. دغه مسوده وایې چې ښاروالي کولای شی چې مالیات تحمیل کړی، او د هغوی لګښتونه باید چې د را غونډ شویو مالیاتو څخه او یا د دولت له خوا د تصویب شوی بودجې څخه زیات نه شی، خو داسې نه وایې چې ښاروالي

**پنځم چوکاټ: د ولایتي لګښتونو مثالونه چې د ښاروالی په عایداتو تمویل شوې دې**

- یو اته کسیزه خارجی هیات له یو ولایت څخه لیدنه وکړه، او والی هر یو شخص ته د ۱۲۰ امریکایې ډالرو په ارزښت غالی ورکړی او د پیسو صورت حساب پانه یې ولسوالي ته واستوله
- د والی او د والی د معاون د میلمنو د ډوډی ورځني لګښتونه د ښاروالي له خوا تادیه کیږی
- د والی په فرمان، د کورنیو چارو د وزارت د یو هیات د هوټل لګښتونه (۱۳۸۰ امریکایې ډالر) د ښاروالی له خوا تادیه شوی وو،
- د یو ولایتی پوهنتون د پرانستلو مصارف په ښاروالي باندی تادیه شوی وو.

اصلی تکی دی او د سیمه ییزه اداري د اصلاح د پیل له پاره دواړه غوره ځایونه دی. بل دلیل دا دی چې ښایي لمړی به د دغو دفاترو اصلاحات نورو ولایتی کارکوونکو ته ډیر د منلو وړ وی.

## ۹. ښاروالي

په ولایاتو کې د ښاروالیو په وظیفه کې د وروستنی کتنی څخه را په دی خوا بدلون راغلی نه دی. په ولایاتو کې چې د ولسوالیو ښاروالي د

کولای شی ټول هغه عایدات چې هغوی نه مصرفوی له ځانه سره وساتی او دا چې دغه اضافه عایدات باید څنګه ولګول شی. دا باید چې تصفیه شی.

د ولایاتو د کتنی په وخت کې په وار وار داسې یادونې وشوی چې د ښاروالی عایدات په ولایاتو کې د والی او یانورو اشخاصو شخصی مقاصدو له پاره استعمالیږی. او څنګه چې ولایاتو له پاره په ولایاتو کې

راټول شویو عایداتو ته لاس رسنه خورا ستونځمن کار دی، نو ځکه د ښاروالي عایدات لا په زړه پورې ښکاري. ښځم چوکاټ د هغو لګښتونو مثالونه ورکوی چې ښاروالي یې باید تادیه کړي. د دغې پیښې د مخ نیوی له پاره باید چې والیانو ته او مستوفیتونو ته د ښاروالي د عایداتو په هکله واضع لاربښوونه وشي او منظمې څارنې باید اجرا شي.

نهم جدول د شپږو ولایاتو د ۱۳۸۲ کال د ښاروالیو د عایداتو او لګښتونو خلاصه وړاندې کوي. د یادونې وړ ده چې د هغو معلوماتو پر بنسټ چې کندهار او هرات تیار کړي دي، په دواړو کې د ۱۳۸۲ کال ځخه کسر ښکاره شوی دی. د هیات ګروپ و نشو توانیدلي چې دا ثابته کړي، خو ښایي چې هغوی کولای شوای چې د تیرو کلونو له اضافه شویو عایداتو ځخه کار واخلي. لسم جدول په هر ولایت کې د ښاروالي د تشکیل خلاصه ښکاروي.

ځنګه چې د ښاروالیو اندازه او د هغوی عایدات توپیر لري، همدغه شان فعالیتونه چې هغوی سرته رسولای شي هم د پام وړ توپیر لري، خو داسې ښکاري چې په ټولو ولسوالیو کې یو شمیر اساسي وظایف شته دي، که څه هم د فعالیت کچه به یې توپیر ولري.

| نهم جدول: د ولایتي ښاروالیو د ۱۳۸۲ کال مالي عایدات او لګښتونه | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | فیض اباد (بدخشان)* | د بامیانو ښار (بامیان)* | میمنه (فاریات) | د هرات ښار (هرات)** | د کندهار ښار (کندهار)*** | میدان ښار (وردک) |
| عایدات | ۳,۷۸۰,۳۳۷ | ۱,۸۵٦,۰۰۰ | ترلاسه نه شول | ۳۰,۱٦۹,۲۴۴ | ۷۴ .۳۳۸,۸۳٦ | ۷۳۷ .۲۹۵ |
| لګښتونه | ۲,۵۵۲,۸٦۲ | ۱,۸۵٦,۰۰۰ | ۳,۵۰۱,۰۹۳ | ۳۳,۲٦۱,۹۳۱ | ۷۸ .۱۵۷,٦۴۴ | ۴۸۴ .۰۱۰ |
| کسر (زیاتوالی) | ۱,۲۲۷,۴۷۵ | ۰ | ترلاسه نه شول | -۳,۰۹۲.٦۸۷ | -۳,۸۱۸,۸۰۸ | ۲۵۳ .۲۸۵ |

| لسم جدول: د ولایاتو ښاروالي: د ۱۳۸۳ کال د کارکوونکو تشکیل | | |
|---|---|---|
| | ډک پوستونه | تشکیل |
| فیز آباد (بدخشان) | ۳۷ | ۴۰ |
| بامیان ښار (بامیان) | ۲۲ | ترلاسه نه شول |
| میمنه (فاریاب) | ترلاسه نه شول | ۲۲ |
| هرات ښار (هرات) | ۵۲۷ | ۵۲۷ |
| کندهار ښار (کندهار)* | ۵۳۷ | ۲۳۵ |
| میدان ښار (وردک) | ۵۹ | ۵۹ |

* د ۱۳۸۲ کال ډیټا
منبع: د ولایاتو ښاروالي

## ۱۰. نتیجې او سپارښتنې

څنګه چې د دغه کتاب په پیل کې څرګنده شوې ده، د اصلي څیړنې له بشپړېدو را په دې خوا د دغه بیا کتنو اصلي نتیجه دا ده چې مالي اداري د ولایاتو په کچه خاص پرمختګ کړی دی، خو لا اوس هم غوره مسالې شته چې باید په ګوته شي. څنې مسالې، لکه په ځانګړې حساب کې د مثبتو بیلانسونو اداره، اوس را پورته شوې دي چې سیستم لا وختي بشپړ شو او کیدای شي چې دا به اساني سره سم شي.

خو بیا هم د کارمندانو د جلبولو او استخدامولو شرایط همامغه شان باتي دي. د لوړ رتبه پوستونو له پاره د استخدامولو پړاو د اداري سمون او مدني تولني نا پایلې کمیسیون له لاري کیږي، خو بیا هم قومي او سیاسي ملاحظات د کارمندانو په جلبولو کې ښکاري. او په ولایاتو کې د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو د تجدید د پروګرام په معرفي کې هم یو څه پر مختګ لیدل کیږي، خو لا اوس هم دغه پروګرام یوازې د تنخاوو د زیاتولو وسیله ګڼل کیږي او نور کارونه یې خوا بدیدونکې دي.

د دغه څیړنې نتیجه دا ده چې د مالي اداري او د تشکیلاتو د اداري اصلاح په هکله چې کوم پیغام دی د یو اساسي سپارښتنې په شان باید ادامه ولري، او د اغیزمنې نتیجې د ډاډ له پاره باید کوښښ وشي، په داسې حال کې چې هغه پرمختګ چې د ولایاتو په کچه شوی خوشحاله وونکی دی، خو لا اوس هم داسې ویره شته چې که د ولایتي بودجې او د هغه د پلان جوړوني پروسې څخه بهر میکانیزمونو باندې رشد کوونکې تکیه به دغه اشکال په حاشیه کې ونیسي او دغه لاس ته راوړنې به له لاسه لاړې شي. د دغه ګزارش خاصې سپارښتنې په یوولسم جدول کې خلاصه شوې دي.

| هدف | مساله | وراندې فعاليتونه (په راتلونکي شپږو مياشتو کې) | له شپږ مياشتو څخه ها خوا فعاليتونه |
|---|---|---|---|
| **پرولسم جدول: د سپارښتنو خلاصه** | | | |
| د ولاياتو سر تر سره حمايت | | | |
